وهمچنان شماراامت وسطي ساختيُم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

فرمانٌ الهي

هرکي عزت ميخواهد (بداندکه) عزت يکسره خداي راست . سـخن پاکيزه بسوي اوبالاميرود وعمل صالح را رفعت ميبخشد وآنانيکه براي فتنه هامي انديشند براي ايشان عذاب شديد است وبداندیشي ايشان همي نابود شود .

په ميدانښار کي دمجاهدينو دگډوعملياتوپه ترخ کي دملحدرژيم اته پوستي فتحه شوي

وردگ ميدان ۲۲ ره‌ر. ۱۳۷ :
دشهادت ورځپاڼي اداري ته دوردگواوميدان ولايت څخه په بوه مخابروي رالېږل شوي رپوټ کي ذکرشوي چي : دوردگو دسيمي زره ورو مجاهدينو دزمري دمياشتي په ۲۲ نېټه دهماهنگو عملياتوپه ترخ کي دملحدرژيم دميدان ښاره‌سيمي په شاوخواکي پرتي دخوړکمرپوسته ، دچشمه وزير پوسته ، دذکرالله دمرکز دوي پوستي، دشهاب الدين په سيمه کي دآبدري دوي پوستي اودغلوغوندي دوي پوستي فتح کري دي .

خبرزياتوي چي په فتح شوبو پوستوکي دملحدرژيم دمزدورانو څخه ۱۳ تنه وژل شوي چي تاولي جسدونه يې اوس هم پراته دي اوزيات شمېرېې پاڅميان اويا له ځايه څخه تښتيدلي دي دغه رازمجاهدينو دفتحه شوبوپوستوڅخه په کافي اندازه دکلاشنکوف ، دهشکي زيکاويك او آرپي جي ۷ مرمي په غنيمت نيولي دي . په خبرکي داهم ذکرشوي چي دغه بريالي عمليات دسيدآباد اوچك دحوزي دحزب اسلامي ، جمعيت اسلامي حرکت اسلامي ، اتحاد اسلامي اومحاذملي مجاهدينو داتحاداو يووالي په بهيرکي سرته رسولي دي . خبرداهم زياتوي چي دسيداباد دحوزي دجګتوردسيمي دوه تنه باتورمجاهدين هم په شهادت رسيدلي دي . روح ئي دي ښادوي

اودتنگي دجبهي يوتن عبدالمنان اويوتن تورپالي نامي دڅارنوال بدرله مجاهدينو څخه زخمي شويدي او روغتيابي حالت يې دداودوردي خبرپه آخرکي ليکي : چي فتحه شوي پوستي اوس هم دمجاهدينو په لاس کي دي

شماره مسلسل (۳٦۳) سال چهاردهم ،شماره (۵۹)يکشنبه (۲۷) اسد ۱۳۷. هـ .ش- (۷)صفرالمظفر ۱٤۱۲ هـ.ق- (۱۸)آگست ۱۹۹۱م

برادر حکمتيار طي تلگرام از داخل کشور:

طرح حزب اسلامی برای اسقاط رژیم کابل وتشکیل حکومت آینده افغانستان

- جاي حکومت فعلي بايد به اداره موقت تخليه شود
- نجيب وظاهر شاه باداروډسته خائن شان در اداره موقت پذيرفته نمي شوند
- رژيم حاکم بر کابل بايد بدون قيد وشرط کنار برود
- حزب اسلامي تفاهم جدي راباساير گروهها آغازنموده وايشان رابسوي وحدت ، تعاون وعمليات مشترك دعوت مي نمايد
- اداره موقت مکلف است درظرف ششماه انتخابات رابرگزار وقدرت را ازاداره موقت به حکومت منتخب انتقال دهد

ص(۸)

جنرال آصف نوازجنجوعه دجنرال اسلم بيك پرځاي دپوځ مشري په غاړه واخيسته

نوازدپاکستان دپوځي اکادمي مشرهم اوپرخيلي زوږتيابي پورتني امتيازات گټلي دي .

اوهغه داگست په شپاړسمه له ماسپښين وروسته دپاکستاني پوځ مشري پر خپله غاړه واخيسته . نوموړي جنرال ته په ۱۹۵۷ کال دپنجاب دپوځ په زوروټولي کي وظيفه ورکړه شوه، هغه دپوه مشهوري پوځي کورني سروسترگي دي . جنرال آصف نواز دکوېټي دپوهنځي فارغ التحصيل دي . اودهند اوپاکستان د۱۹٦۵ او ۱۹۷۱ په جنگونوکي يې پوره ميړانه ښکاره کړيده . ده پرېلابېلو پوځي چوکيوډنډي ترسره کړيدي . آصف

بريدجنرال آصف نوازد" هلال امتياز" او" بسالت ستوري " دتحفوگټونکي دي،

يك حمله تهاجمي دشمن درمنطقه -چهلتن پغمان درهم کوبيده شد

پغمان ۲٦ره‌ر. ۱۳۷ :
خبرگزاري (انا) ازولسوالي پغمان خبرميدهدکه : مجاهدين بتاريخ ۱۷ اسد بالاي پوسته هاي قراء وتپه هاي ارغندي عمليات موفقانه انجام دادند که درنتيجه پوسته هاي مذکورفتح گرديد .
خبرعلاوه ميکند : درجريان اين عمليات يك ميل راکت انداز آرپي جي ۷،دوميل ماشيندار پي کا وپنج ميل کلاشينکوف به غنيمت مجاهدين درآمد .
طبق خبر : بتاريخ ۱۹ اسد مجاهدين يك پوسته رادرسياه کوه واقع ارغندي فتح نموده ٦ ميل کلاشينکوف ، يك ميل ماشيندار پي کا و يك ميل راکت انداز رابه غنيمت گرفتند .
دراين عمليات چهارتن عسکريه اسارت مجاهدين درآمد .
خبرمي افزايد : يك حمله غندمجهز رژيم درساحه چهلتن پغمان توسط مجاهدين دليردرهم کوبيده ومجبوربه عقب نشيني گرديد .
طي اين عمليات روياروي ۳ نفرعسکرهلاك دونفراسير و ۲۵ نفرديگر زخمي گرديدند .
طبق خبر،مجاهدين دراين عمليات دوميل راکت انداز يك ميل ماشيندار پي کا و ۲۵ ميل کلاشينکوف رابه غنيمت گرفتند .
ازتلفات مجاهدين تاکنون راپوري دردست نيست .

دوروروحکمتيار له خوا د "مؤمن" سورت ترجمه او تفسير

د جماعة الدعوة الي القرآن و السنة په ځواب کي

(په دوم مخکي)

ځنومشرانوته ځني مشوري

په دوهم مخکي

بنام خدائيکه بر اندازه مهربان نهايت رحم است

سرمقاله

سومين دورمذاکرات مستقيم مجاهدين باروسها

درطول جنگ سيزده ساله مجاهدين با قواي اشغالگرروس وعوامل فرومايه آنها، تلاش کرملين برآن بودتا مجاهدين را چه درميدان جنگ وچه درميزصلح دربرابر رژيم مزدورکابل طرف قرارداده وپاي خودرا ازدخالت درقضيه برون نمايند. پنج سال قبل هنگاميکه روسها ببرك را از کرسي اقتدارخلع وبه عوضش نجيب جلادراوي صحنه آوردند، به اوتاکيدنمودند تا اشتباهات گذشته رابااعلان برنامه آشتي ملي باتمام جهات اپوزيسيون اصلاح وبه اين ترتيب ازطيف گسترده مخالفت عليه رژيم بکاهد .

مهمترين هدفي که روسها تحت پوشش آشتي ملي ميخواستند بدان نايل آيند ، عبارت ازآن بودکه ماسکوميخواست رژيم مزدورکابل راطرف اصلي قضيه بامجاهدين وانمودساخته وبه اين ترتيب ازورشکستگي وانسحاب فضيحتبارقواي خويش درجنگ ،ذهن جهانيان رامغشوش نمايد، ولي لله الحمد کياست وتدبيرمجاهدين براي روسهااين فرصت رانداد تابه اين هدف شوم خويش نايل ايند . چه ازهمان روزهاي اولي که صلح ومذاکره به سرزبان ها افتاد ، گروههاي جهادي مطرح درسنگرها باقاطعيت وصراحت مذاکره وتفاهم بارژيم کابل را مردود اعلان نموده ودرعوض روسها را طرف اصلي قضيه دانستند .

هرچند که اين پيروزي باسادگي ايکه بعضي هاگمان مي برند ، بدست نيامد، بلکه بعضي ازعناصر وگروهکهاي که چشم بحل سياسي قضيه دوخته اند، درگذشته وحال گهگاهي بانجيب ورژيم مرتد اوبه گفتگوومذاکره نشسته اند، مگرباآنهم اين معامله گريهاي پشت پرده دربرابرموضع ثابت و انعطاف ناپذير سنگرداران حقيقي جهاد چون کف روي آب، کدام تاثيري برروال عمومي جريان اصيل انقلاب نينداخته وامروزذهنيت عامه مجاهدين وملت مسلمان به موضع آشتي ناپذيري گروههاي نيرومند جهادي بارژيم مرتد کابل صحه ميگذارد .

بعدازآنکه تلاش روسها درطرف قراردادن رژيم کابل با مجاهدين بجائي نرسيدوازسوي ديگرخود روسهابه بهانه رعايت مفادمعاهده ژنو قصد انسحاب ازافغانستان راداشتند ، بايك سري تلاشهاي مذبوحانه خواستند تادرمذاکرات دوجانبه ومباشربامجاهدين افغان بازهم اهداف استعماري خودرا تعقيب نمايند . درجمله اين تلاش هامي توان ازروند مذاکرات مجاهدين وروسها درطايف واسلام آباد درسال ۱۳٦۷ نام برد. دردو دورمذاکرات نامبرده ، روسها سعي داشتند ازيکسو مجالي براي شمول وبقاي کمونيست ها در رژيم آينده افغانستان بيابند وازسوي ديگر قصدداشتند بابذرتخم نفاق ميان مجاهدين مستقر درپاکستان وايران ، قوت وهمبستگي مجاهدين را زير سوال برده بانفوذ درصفوف مقاومت ، انقلاب را ازاهداف اصلي اش به بيراهه بکشانند . مگر بازهم بياري خداي خيرالماکرين روسها بهردوهدف مطمع نظرخودنايل نگرديده بااعلان ختم جريان مذاکرات خايبوخاسرسرجايشان نشستند .

ص(۷)

له پل څرخي جيل څخه د(۲۵) تنو ازادشويو افغان مجاهدينو له ډلي څخه (۱۱) کسه پيښورته راورسيدل

دافغان مجاهدينو دهغو پنځه ويشتو تنو سياسي بنديانو لومړني شپږکسيزه ډله چي له بوه روسي پوځي اسيرسره تبادله شوي وه دچهارشنبي ورځ ۲۳ره‌ر. ۱۳۷ نېټه دنړيوال سره صليب- په ځانگري الوتکه کي پيښورته راورسيدل .

دافغان نيوز ايجنسي خبريال رپوټ راکوي چي : په دغي شپږکسيزي ډلي کي دجمعيت اسلامي افغانستان دوه تنه غړي : مولوي محمداعظم دمحمدشفيق ځوي دغورات اوسيدونکي چي په اعدام محکوم شوي و ، عبدالصبوردغلام سخي ځوي دکابل اوسيدونکي ، چي په ۱۸ کلونو بندمحکوم و ، دحزب اسلامي افغانستان دري تنه غړي دلغمان اوسيدونکي محمداسمعيل دمحمدابراهيم ځوي، قاضي پاينده محمد د لعل محمد ځوي ، دپروان دچهاردهي اوسيدونکي ، دکابل اوسيدونکي فضل الدين شاه دمنورشاه ځوي چي په شلواوپنځلسو کلونوبند محکوم شوي و ، داتحاد اسلامي افغانستان غړي تورن غلام محمد دغلام نبي ځوي چي په شلو کلونو بند محکوم شوي و شامل وو .

دپيښورپه هوائي ډگرکي دنړيوال سره صليب له خوا دغه شپږتنه دهرات ولايت دجمعيت اسلامي دشهيد صفي الله افضلي دجبهې استازي انجنيرفاروق ته وسپارل شول اودتسليميدلو سندونه يې لاسليك کړل .

وروستي دغه سياسي تبادله شوي زندانيان دشهيدافضلي دجبهې مرکزته ولاړل اوله ژورنالستانوسره يې وکتل . دوي څرگنده کړه چي : موږته د ۱۳۷. کال داسدپه يوولسمه نېټه په پلچرخي زندان کي اطلاع راکړشوه چي تاسي تبادله شوي ياست . وروسي داسد په ۱۳ نېټه دصدارت نظارتخانې ته راوستل شوو اوبيا داسد په ۱۷ په کابل کي دنړيوال سره صليب مرکزته بوتلل شوو اوراته وويل شول چي تاسي دجمعيت اسلامي له خواتبادله شوي ياست اوبيا داسد په ۲۳ نېټه پيښورته راورسيدو .

دوي زياته کړه چي ښايي بوه بله ډله سباچي پنځه تنه په کي دي په خيرپيښورته راشي . دوي دکابل دپلچرخي په جيل کي دررژيم دسلوك دبدلون په باب وويل : همدومره بدلون ليدل کيده چي دنړيوال سره صليب له خوالخيني ليکونه وړل راوړل

ص(٦)

با نجيب وداروډسته قاتل وخائنش بهيچ صورتي درابطه با اينده افغانستان مذاکره صورت نمي گيرد

اسلامي انقلاب د منځني آسیاسرې پولي تهديد وي

ناګار

دروس د ګورنیو پېښو چلند اوزمور د جهاد دوروستیو سوبو بهیرته چي وکتل شي ، نوداتري په ډاګه څرګندیږي ، چي روسي سیاستګرنوردنجیب له ماتي خوړلي رژیم پشپړنااميده اوپهدي هڅه کي دي ، چي دنجیب دحکومت پرقربانی اوبایلات څولزترلژه باید دومره وکولي شي، چي داسلامي جهاد دتورپرمختګ مخه ونیسي، اوداانقلاب په همدي جذبه اوشدت دمنځنۍ آسیاپه سروپولو وروګځته شي، چي ولسونه بي له پېري راهیسي دهمداسي یوه غیبي غږپه انتظار دکمونستي مظالمو په تیاروکي اوسي . څه وخت روسي دروس حکومت پرپاکستان داحتجاج غږوکړ، چي دافغاني مجاهدینو په لاس پاروونکي انقلابي اسلامي ادبیات وراستوي ، اومنځنی آسیا په زړه کي توپاني ولولي راپاروي نودپخواپشان داځل هم روس دداډول موعودخطر مقدماتي پړه داسلي لوري پرحاي پرپاکستان وروا چوله، اوحفظ ماتقدم په ډول بي دنړیوالو په ذهن کي کېښوله ، چي که روس دداډول پاڅونونو پرضدکوم پوځي اقدام کوي، نوهغه به داسلامي هیوادونو اومسلمانانو دلاسوهني له کبله وي ، اوباید روس پري په نړیوال دګروته تړپل شي، خودروان بهیرڅخلنده مطالعه هم سړي پدي واډمن کوي، چي دافغانانو جهاددمنځني آسیاتناب راښکودي دي، چي له یولرپخوتداپیرواوتصامیمو له نیولو وروسته به دنړیوال تناظرسترګي ویرېښوي. پدي وروستیو کي اسلام آبادته دروس دبهرنیوچاروودوزارت دمرستیال سفرواوافغان ریري په باب دوه ارخیزي خبري، اوتردي وروسته دانقلابي افغانستان جهادپال مشرتابه ته دلومړي ځل لپاره دروسي حکومت تیغ په تیغه انعطاف داتصورغښتلي کوي، چي دارپړه روسانوته هغه پخواني قیمت نه لري، اوته ورته لاسپوځي رژیم دومره ارزښت لرلي شي، چي دحماسه زیږوونکي اسلامي ملت سره پري خپله دښمني لږه نوره هم اوږده کړي . دروسانوداصرار چي مجاهدین دي له نجیب سره خبروته کېني ، په متفق علیه اومتحدډول دمجاهدینو له اړخه ردیدلوپوه پله ګټه داوکړه ، چي دختیځ اولویدیځ ښکیلاک ته پاګیزه شوه ، چي دافغانستان مومن ملت له اسلامي حکومت پرته په بل څه راضي کیدلي نشي، اوپدي توګه بي هغه شیطاني هیلي له زړه ووتي ، چي دمجاهدینو شکلي اومقامي کوچنیو اختلافاتو وروسره ملګري کړي وي . ځکه هغوي باید له دي پریکنده اوغوځ دریځه داانکل کړي وي، چي دادیوه عظیم اوایمان لرونکي مومن ولس هرداوتکل دي، چي دجهادي قیادت له خوانښیلیږي ، اوکه چیري داختلافاتومسئله وي، لکه څنګه چي بي لویدیځ مطبوعات اودنړیوال متحدکفرخبري منابع په وازکومي اولوراواز اعلاموي، نوباید پردي سپین میدان سکاره شوي وي ، خوته ! داهرڅه شیطاني هلي ځلي وي ، چي له واقعیتونو سره بي اړخ نه شولګیدلي اوښکیلاک ورته دامکان په صورت کي په تمه و. پاکستان ته له هیئت رااستولو سره جوخت دروس جمهوررئیس ګورباچوف دایران مشررفسنجاني ته دافغانستان دریري په اړوند پولیلک استولي، اوپدي باب بي تري دیووه مرستي غوښتنه کړي ده ، دروس داډول هراړخیزتماسونه اودیپلوماتیک سفرونه دیوه نوي جریان دراڅرګندېدلوویره ده ، چي دسري امپراتورۍ جغرافیابه له سخت ګواښ سره لاس وګریوان کړي ، او هغه دمنځني آسیا مسلمانانو داسلامي و ښتاپه هغه انقلابي غورځنګ دي ، چي دافغانانود جهاد تعاقب اوتداوم بي باید وګڼو . له مجاهدینو سره دجنګي قیدیانو تبادله هم ددغي لړۍ دیوي کړۍ په ډول سرته ورسیدله ، خود روسانو ټیه پردي هم سره نه شوه ، اوله یو ډول ارتباط نیولو وروسته دیوه هیئت په شکل له پولي راپوریوتل ، اوله مجاهدینوسره بي دتیغ په تیغه خبروپه ترځ کي ددي هیلي واړواخیست ، چي باید دروس پولي دمجاهدینوله انقلابي ګوزارونوته په امان اومصئوني پاتي شي . دروس داډول مجبوریتونوته چي سړي وګوري ، نوپوهیږي ، چي دافغانانو جهادتوردمنځني آسیاپرپولو ورننوتي ، اوکه روسان بي دمخنیوي هرخومره زیاروګالي، خونتایج به بي دافغانستان دجهادغوندي راوحي، اوبیاپه هم دروس په ښتېږي ماتي تمامیږي . اوس به نوروس څه کوي ؟ دنجیب لاسپوځي رژیم نورنه دمقاومت توان لري، اوته پدي حیثیت دچالپاره دمنلو وردي. همداډول دمجاهدینوداسلامي حکومت جوړېدل هم دختیځ ښکیلاک لپاره دمنځني آسیا دقرباني په مانادي اوهم لویدیځ ښکیلاک ته داوړدي اسلامي لیکي دجوړېدلوچیلنج، چي پراسلامي تشخص سربیره به چین هم ورسره دخپل خان اوګټو دمحفظ په خاطر دفاعي معاهده ولري ، ددي ډول خطراحساس له روس نه پرومبي لاامریکاته شوي، اوداځکه دلویدیځ په مشري پدي ستونزه کي په ډیره دلچسپي مداخله کوي، دافغانستان دستونزي دبهرني تناظرترڅنګ که دنجیب دګوډاګي رژیم وضعیت ته وګورو، نوشیبه په شیبه بي دمرګ اوښتیږي تابودي احتمالات پیاوړي کیږي . له یوي خواپري دمجاهدینوپرله پسي غرځ ګوزارونه او له بل اړخه بي داتحطاط دوروستني وخت ورځ په ورځ زیاتیدونکي اختلافات ددي لامل شوي، چي په چټکي سره باید خپل ځاي مجاهدینو ته پریږدي . دبیلګي په توګه که دنجیب سترساتونکي ځواک ملیشه واخلو، نوپدي خوهرڅوک پوه دي ، چي لاسپوځي رژیم له پوځ نه محروم دي ، اوداهغه واقعیت دي، چي پخپله دنجیب دحکومت جنرالان پري دنړیوالومطبوعاتوترمخ معترف شوي، نو تن سیاپي ملیشه هم دخپلمنځي اختلافاتوښکارسکاري. دکیان اودوستم دملیشوترمنځ نښتي اوزیات ځاني تلفات ددي ګواهي ورکوي ، چي دنجیب وروستني ساتونکي اوملاتړهم نوردمقاومت ځواک نه لري . اوداپي دپرهادي اخرني نښي دي همداډول دمجاهدینوترمنځ پرمرکزدګډوعملیاتو توافق اوپدي باب پوګام اوچتول هم انشاء الله له شک پرته دجهادي بري ضمانت ورکوونکي زیري دي اوکه دااوس هم پرکابل دجهاد نفوذ ته وګورو، نوڅرګندیږي ، چي ددفاع وزارت اودروس سفارت

۷ مخ

څنو مشرانوته څني مشوري

«حق مل»

۸- هغه مشرچي په خپلو قومندانانو اودده په تنظیم کي پسترشووکسانو باندي بي خپل تسلط کاملا له لاسه ورکري ، قومندانان بي ترده نه مشهور وي ، لده سره هومره مرسته نه کیږي لکه له قومندانانو سره ئي ، پردي ئي خوزوي ، پردي ئي توجیه کوي، پردي ئي دتنظیم په خلاف هڅوي دده دخویني اورادي خلاف ئي پداسي شوراګانو کي منظم کوي چي دجهادي تنظیمونو په خلاف ورته ګاروا خلي ، خودي نه دڅه ویلو جرأت کوي اونه دڅه کولو توان په ځان کي وېني . په تنظیم کي ئي سترشوي کسان شپه ورځ دده په خلاف تبلیغات کوي ، معاش له بل ځاي نه مستقیما ترلاسه کوي . شاید بهرني خلک دده دتنظیم په ضددومره تبلیغات ونکړي لکه همدا دده دتنظیم مهم کسان .

زه دي درونډ مشرته وایم له داسي تنظیم نه څه جوړیږي ؟ پاخوتنظیم منحل کړه اوددعوت په کارکي مصروف شه . اویا داسي تنظیم جوړکړه چي په هغه کي ستاهم نظره کسان راغوند شوي وي اوپه ریښتیاداامیر اورهبرپه حیث پیژني . که تااوستاله تنظیم نه دفاع کوي دپردیو په لاس کي ونلویږي اوله بل ځای نه مخامخ نه تغذیه کیږي .

څوک چي ستاپه قیادت ، تدبیر تفکیر اواداري قانع ندي نو یادهمدغو خلکو دارضا لپاره له قیادت نه لاس واخله اویادوي ته ووایه چي ستاڅنګ پرېږدي اوهغه تنظیم ته ولاړشي چي دمشرپه اهلیت اوکفایت ئي باورلري اوستاترتنظیم ئي غوره ګڼي .

۹- دجهادي تنظیمونو په ضد داګډ سازش روان دي چي ، قومندانان ورنه بېل کړي ، دجهاد په اواري او دولس په رهبري کي دتنظیمونو رول اونقش ختم کړي . قومي مشران، دبیلوبیلو قومونو په اساس منظم کړي اوقومي جرګي ورته جوړي کړي . قومندانان دقومندانانو دشوري په نامه بېل راغوند کړي . په سیاسي اوعسکري میدان کي ، مشخص اهداف ورپه ګوته کړي دجنګ پلان ورکړي . اهداف ورته تثبیت کړي مستقل ئي اکمال کړي .

تنظیمونه باید لدي بهیر نه کناره وساتلي شي دتصمیم په نیولو داهدافو په ټاکلو دمحاذ په اکمال اوله جګړي نه پس دنتایجودبررسي په کارکي تنظیم نه پواځي څه رول ونلري بلکي له دوهم اودریم لاس نه ډیر وروسته وځي له خبرنګارانو نه معلومات ترلاسه کړي . همدغو قومندانانوته مطبوعاتي کنفرانسونه جوړشي، مجهز اوښایسته دفترونه ورته خلاص شي ، اوحتی په ملاقاتونو کي له مشرانو سره یوځاي استقبال شي او ترمشرانو ددوي زیات احترام او درنښت وشي .

زه ددغو قومندانانو مشرانوته وایم :

له داسي رهبري نه خو داسل ځله بهتره ده چي دیوه مجاهد په حیث پداخل کي ژوند وکړي . زه نه پوهیږم دامشران ولي ددغو خاننانه توطئو دمقابلي جرأت نکوي ؟

ولي داناولي بهرني لاسونه نشي قطع کولاي ؟ زه خو دداراز لاس وهنو په وړاندي سکوت ،دملت اوملت له څرخولو سره مترادف ګڼم که موږ پداسي لاس وهنوراضي کیږو، نودنجیب مقابله دڅه لپاره کوو؟

ماته خو ددغو مداخلاتو مخنیوي ډیرآسان بریښي . که دامشران خپلو قومندانانو ته اوهغومراجعو ته په صریح اوقاطعو الفاظو ووایي چي :

۱- هرهغه قومندان چي له هري بهرني مرجع نه کمک ترلاسه کړي هغه زما قومندان ندي . اویا دداسي کس تعهد ختم کړي اودتجرید خبرتیا اعلان کړي .

۲- دقومندانانودشوري په مقابل کي دصالح اومخلصو قومندانانومحلي شوراګاني جوړي کړي . او همداراز دقومندانانو لپاره یوه داسي مرکزي شوري تشکیل کړي چي له مهمو اوسترواوسترو جبهاتونمایندګي کوي . خپل تنظیم ته متعهدوي اودپردیو په لاس کي له لوبدو اواستعمالیدونه کرکه لري . اوهمداشوري داخبره اعلان کړي چي موږ دبهرنیو لاس وهنه نشو زغملاي . دپردیو په لاس جوړي شوي شوراګاني نه متو اوهغوي دقومندانانو اومجاهدینو نمایندګي نشي کولاي . پدي ترتیب به ددښمن یوه لویه توطئه شنډه شوي وي .

همداراز ددي محلي شوراګانو په ذریعه به ددښمن هغه دسیسه خنثي شوي وي چي زموږ دملي وحدت دختمولو لپاره دقوم په بنیادجرګي جوړوي ، قوم خرخونکي تش په نامه مشران راغونډوي اودتنظیمونو په خلاف ئي استعمالوي ، که ئن زموږجهادي تنظیمونویوه موثره شوري درلودي اوداشوري یادسرتاسري انتخاباتو له لیاري جوړه شوي وي ، یا دمحلي شوراګانو له لیاري اویا په مهاجرینو کي دانتخاباتوله لیاري ، او باعدالت اوانصاف په نسبي طورمراعات شوي وي . اوهرتنظیم ته دهغه دوزن اوقوت په اندازه مناسبه برخه ورکړي شوي وي اویاکم له کمه یوه قیادي شوري جوړه شوي وي نواوس به بهرنیو ځواکونو زموږ په سرنوشت دلوبوکولو مجال نشو ترلاسه کولاي اوپدي وقاحت اوبي شرمي سره به ئي زموږ په کورنیو چاروکي دا راز مداخلي نشوي کولاي .

۱۰ - زه یوداسي څوک هم ګورم چي غواړي مشرشي ، څني خاصي مشکوکي حلقي ئي هڅوي دلته اوهلته دفترونه ورته جوړوي ، مدرسي اوشفاخاني ورته پرانیزي . اخبارونه اومجلي ورته راباسي . خو داټول کاروته پداسي حال کي کوي چي ځان قومندان ګڼي . دحزب جوړولو له ګناه نه ځان بري شمیري ، په احزابوپسي بداوردواني ، اختلاف محکوموي اوځان دیووالي اووحدت مخلص اوصادق داعي شمیري !!

دومره پادي ګاردان ځان سره ګرځوي چي یومشرئي هم نلري . حتی په موټروباندي ئي دهشکي نصب وي ، اودبادي ګاردانو په اوروني راکټونه داندا خت لپاره تیار وي اوپاکستاني ښاروتو کي ګرځي .

کارئي په تحفو اوهدیوچلیږي په څنو پاکستاني دفترونو کي پدي خاطر منلي دي چي دځفي اوهدیي په نامه بنه ډېر رشوتونه ورکوي له امریکانیانو نه مستقیمي مرستي ترلاسه کوي ، نوورته مطبوعاتي کنفرانسونه جوړوي ، دکنفرانس بیان هغوي ورته لیکي مطالب هغوي ورته ټاکي .

خوددي ټولو سره سره هغه اسلام ته داخلاص دعوي لري ، ځان مجاهد ګڼي اودتنظیمونو په مشرانو پدي خاطر کلک کلک لګیږي چي اتحادنکوي اوپه جهادکي برخه نه اخلي پداسي حال کي چي په خپله په سنګرونوکي دومره نه پاتي کیږي لکه په خارجي سفرونوکي ، چي کله خپل نمایشي مرکزته پداخل کي ولاړشي نو دټوپونو، زیکویکو اودهشکو په زرګونو مرمي ورته فیرکوي . داسي ګمان مه کوي چي مجاهدین دمیني اواحترام په خاطر داکار ورته کوي بلکي هغوي بي همداسي روزلي . څني ماشیني اوتسلیمي ضابطان ئي په خپل خواکي دهمدي کار لپاره راغونډ کړي .

جنګ نوروکړي ، خوراپورئي دي ورکوي او دنوروفتوحات خانته منسوبوي .

دي محترم ورورته زما عرض دادي چي لدي کارونو نه څه نه جوړیږي ، نه دي ددنیا خبریدي کي وي اونه دآخرت پایه هماغه تنظیم کي دیوه مطیع فرد په حیث کاروکړه چي ورته منسوب یې ، بابل ته ولاړشه . چي دپردي ملک دیوه واړه مامور، منته او اطاعت کوي اوچي هغه کوم پروګرام درکوي طوعا اوکرها ئي عملي کوي . دیوه افغان مشراطاعت اوملګرتیا وکړه .

۱۱- زه هغه مجاهد ، قومندان اود تنظیم مشرته حیران یم چي داسلامي حکومت دجوړولو هیله څرګندوي . کله کله انقلابي اکتونه کوي . اوله استعمارګرانو اومداخله ګرانوسره خپل مخالفت څرګندوي خودهاله چاترمشرتابه لاندي خوزیري چي له پردیو سره سازش په میراث ورته پاتي دي . پرون هم دمفسدو حکمرانانو په خدمت کي وو اواوس هم دهماغو زرو بي ایمانه واکدارانو دبیرته راوستلو هڅه کوي او پدي کارکي له استعماري ځواکونوسره په خائنانه سازش کي ملوث دي نه چي دیوه مادي غرض اوسیاسي مصلحت لپاره دداسي خلکو ملګرتیا کوي . نه پوهیږم هغه به کوم ساده لوح انسان وي چي له تانه دا ادعاومني چي ته خلافت اسلامي علي منهج الصحابه غواړي اودیوه اسلامي حکومت دتاسیس لپاره په جهاد لګیایي او قرباني ته تیاریي .

۱۲- زه یوداسي په اصطلاح قومندان هم پیژنم چي دغربي جاسوسي شبکو په لوموکي داسي پریوتي چي ګمان کوم وتل ورته ګران وي . هغه دیوه تنظیم قومندان دي ، خوپه پشاورکي دده خاص دفتردتنظیم له دفترنه دیردیر مجهز اومزین دي . اکثرا په خارجي سفرونومصروف وي خو غربي آژانسونه ئي سترقومندان ګڼي دده په خواکي اوپه دفترکي بي دیوه فعال کارکن اومشاور په حیث، یو داسي امریکائي مامورودفلمبردار په نامه لګیا اوله حرکاله رادي خوا دده ملګرتیا کوي . فلمونه ورته جوړوي مشوري ورکوي . اودمطبوعاتي کنفرانسونو بیانونه ورته جوړوي . چي ځان دیوي امریکایي تلویزیوني شبکي خبرنګارګڼي خویه حقیقت کي د سي آي اي غړي دي . دتنظیم مشر پدي ټولو خبرویوه دي خودشخصي اوسیاسي مصالحو په خاطر دڅه کولو جرأت نشي کولاي . پاتي لري

دجماعة الدعوة الي القرآن والسنة په خواب کي

امارت جهاد ولايت کنر

الحمدلله وحده والصلاة والسلا م علي من لانبي بعده – فاعوذبالله من الشیطن الرجیم .

فبمانقضهم میثاقهم لعنهم وجعلنا قلوبهم قسیة – یحرفون الکلم عن مواضعه ونسواحظا مماذکروابه . ولاتزال تطلع علي خائنة منهم الاقلیلا منهم فاعف عنهم واصفح ان الله یحب المحسنین . (المائده – ۱۳)

دمولوي جمیل الرحمن ډلګي – دکنړ دپیښي په اړه په عربي ژبي – یوداسي له دروغوډک بیان صادرکړي چي موږئي دیته اړکړو– په ځواب کي ئي څه ولیکو. حزب داخبره ځانته پیغورګڼي چي دداسي یوي ډلګي په هکله څه ولیکي اوپاتي ځواب ووائي خوپدي خاطرچي داډله دپردیو په لاس کي پریوتي نورئي استعمالوي اوغواړي جهادته ستونځي راولاړي کړي . دمجاهدینو په وړاندي خنډ شي اومجاهدین له اصلي کارنه منصرف اوپه داخلي فتنوکي ئي مصروف کړي . اودهمدي ډلي په ذریعه په بهرکي غلط تبلیغات وکړي اودمخلصومسلمانانو ذهنیتونه دجهاد اومجاهدینو په هکله مغشوش کړي ، نوځواب ته ئي مجبورشو .

اوهدف مودادي چي په لومړي سرکي ددي ډلګي په ذریعه دوکه شوي افغانان اوبیا هغه مخلص اهل خیرمسلمانان چي په بهرکي ددي ډلي دمزورانه شعارونو په ذریعه اغواشوي په حقایقو پوه کړو.

دکنړوروستي پیښه له هغو ډیرو فتنوڅخه ده چي دهمدغي ډلګي په ذریعه په کنړکي راپورته شوي . یوکال دمخه دهمدي ډلي افراد په مؤقت حکومت کي دشاملو شیبوډوله افرادوسره ونښتل چي په نتیجه کي (۹) کسان په شهادت ورسیدل اوڅوړلس تنه زخمیان شول .

جمیل الرحمن چي دمختلفوډلو خوندني ځکلي – له حکمت یارصاحب ، مولوي صاحب خالص ، ،قاضي محمدامین ، استادسیاف اواستادرباني سره ملګري شوي اوله هریوه نه ئي په خپل وخت کي پوره ګټي ترلاسه کړي . خوله یوه سره ئي وفائنده کړي اوپه خپل تعهد ندي پاتي شوي . په پاي کي دیوي استخباراتي شبکي له خوا تشویق شو چي ځانته بیله ډله جوړه کړي . ددغو شبکو په لوموکي هماغه جاه طلب اودنیا پرست خلک نښتي چي هدف اوتعهدهغوي ته هیڅ ارزښت نلري . په ارزان قیمت اخستل کیږي . اوخپل حزب، ولس اوملک په خلاف په آسانۍ استعمالیږي ده په لومړي سرکي خپل کارتردي نامه لاندي پیل کړچي غواړي دصحیحي عقیدي دعوت وچلوي مدرسي جوړي کړي اودشرک اوخرافاتوپه خلاف مبارزه وکړي ، دسیاسي ډلي جوړولو اراده نلري . چي چابه وړاندي اعتراض کولو چي ولي دتفرق سبب ګرځي او دبیلي ډلي په جوړولوڅخه کوي ویل به ئي چي دتنظیمونو اختلاف اوعدم یووالي مجبورکړي چي له سیاسي مبارزي نه لاس واخلي له هیڅ حزب سره تعهد ونکړي اوددعوت په کارکي مصروف شي . خو نوموړي استخباراتي شبکي بېل پلان درلود دي ئي باید په مدار مدار هغي مرحلي ته رسولي دي چي دیوي مستقلي ډلي په حیث تبارز وکړي . شاید جمیل الرحمن په خپله هم پدي پوه نه وي چي څنګه ئي دي مرحلي ته راورسولو چي اوس بیله سیاسي ډله خوپریږده چي په څه سراي کي دامارت اسلامي دجوړولو اوپه نورو ډلو په زور دتحمیلولو خوبونه ګوري .

ددغي شبکي امکاناتو مست کړي . ګمان کوي چي کولاي شي بي ضمیره خلک په پیسو واخلي اوله هغوي نه داسي قوت جوړکړي چي دده دمستي دخوبونو غوره تعبیربه لاس ورکړي .

هغه دومره غرور اومستي اخستي چي له هغه حزب سره دټکر اوتصادم جرأت کوي چي لس کاله دهغي په غیرکي روزل شوي . سترشوي دنوم اونشان خاوند شوي

خلکوبه ملاحسین ورته وایه دحزب په غیږکي په "مولوي صاحب جمیل الرحمن" امیرولایت کټیدل شو . داکم ظرفه اوڅمك حرام اوس غواړي هغه دامارت لقب په مستقل امارت بدل کړي . حزب په لغتو وهي ، په حزب پسي بداورد وائي دقرآن پدي آیت استناد کوي اودحزب پرخلاف دجهاد اوقتال فتوي صادروي چي فرمائي :

وقاتلوهم حتي لاتکون فتنه ویکون الدین کله لله .

اوس خپل رهبر اوهغه امیرپسي تبلیغات کوي چي لس کاله دهغه ترامارت اوقیادت لاندي دحزب په لیکوکي پاتي شوي . هغه پسي ئي لومنځ کړي په سیاسي لحاظ ئي په هغه پسي اقتداکړي . له هغه نه ئي په کلکه دفاع کوله . اوپه افغانستان کي ئي دهغه ترقیادت لاندي واقعي اسلامي حکومت غوښتلو .

زه لدي جناب نه تپوس کوم :

۱- حزب اسلامي غلطه لیارغوره کړي وه اوکه ته دوکه شوي وي چي لس کاله دي پدي حزب کي تیرکړل . هغه څوک چي لس کاله وروسته پدي پوهیږي چي دده حزب غلطه عقیده اوغلطه لیارغوره کړي ډیرکودن اوناپوه دي اوددي وړندي چي بیله ډله رهبري کړي . نه پوهیږم چي ته اوس دوکه شوي یې اوکه هلته چي دحزب په لیکوکي لګیاوي .

۲- آبادادتوحید نوي عقیده چي ته ورته بلنه ورکوي ، دوه کاله دمخه اوهلته چي په حزب کي اوسیدي درسره وه اوکه پس له هغه چي دداسي عقیدي په څرګندولو سره ریال ترلاسه کیدي شو . که ته زوړ موحد یې اوحزب په عقیده کي خرابي وي نوداس کاله څنګه په حزب کي پاتي شوي اوداخرابي دمحسوس نکړي شوه اوهرچاته دي ویل چي په ټولو ډلوکي سالمه عقیده دحزب عقیده ده ؟

۳- که له تاسره دعقیدي سوال مطرح وي توله مولوي صاحب فقیرالله سره به دي جګړي ته ملاته تړله پداسي حال کي چي هغه ستااستاد حیثیت لري . اوکنړدده ترقومندي لاندي آزادشو. اودکنړدآزادي نه وروسته دټولو قومندانانو په اتفاق دوالي په حیث انتخاب شوخوهغه تنازل وکړ اودامقام ئي مولوي صاحب غلام رباني ته حواله کړ .

٤- ته دکنړدټولو صالحو اومخلصو علماوو اومجاهدینو سره جګړي ته ملاتړي خو په خواکي دملیشي بدنام اوبدعقیده افراد . چي دمسلمانانو په وینو ئي لاسونه سره دي . راغونډوي . وسله ورکوي اوپه ولس بي مسلط کوي . داڅنګه دصحیحي عقیدي دخاوندانو په خلاف جنګ اعلانوي اوهغه کسان مسلح کوي چي ترپرونه دکمونستانوپه څنګ وو اودمجاهدینو په خلاف جنګیدل ؟ داولي مولوي عبدالله ، مولوي عبدالرحیم ، مولوي غلام محمد، مولوي رحمت خان ... اونور ستاد عقیدي ملګري ستاخواپریږدي اوپه څرګندو القاظو وایي چي دلته ځني بیدینه اومفسدخلک دمولوي جمیل الرحمن په خواکي راغونډ شوي چي په فساد اوخیانتونوکي غرق دي ؟

اوژباتوي چي دخپلي کورني لاوبالي غږوته ئي ټول اختیارات سپارلي ؟ داڅنګه ستانمایندګان او دپاکستاني مقاماتو سره ارتباط غږي په پیښاورکي دومره بدنام دي چي ویل کیږي پاکستاني مامورینوته درشوتونو نه علاوه حتي دشرابو بوتلي او ... وړاندي کوي اوخپل کارونه وړپاندي کوي داکوم توحیددي ؟ اوداکومه صحیح عقیده ده چي ته په هغه سره ځان ترنورو غوره ګڼي ؟ تاهغه کسان په خپلي خواکي راغونډ کړي چي ترټولو خرافي ډلي دهغوي له منلونه ډډه کوي .

۵ – موږچي وایو ته دجاه طلبي لپاره په کنړکي دجنګ اورته لمنه وهي او دکاذب شهرت لپاره دخلکو له وینو سره لوبي کوي وجه داده چي ټادټولو هغومجاهدینو دخویني اورادي په خلاف اودزورله لیاري په کنړکي دامارت خوبونه ګوري !! کوموچي کنړئي آزاده کړي امنیتي قواوي جوړوي !! په لیاروکي ځنځیرونه اچوي . دنورو تنظیمونو افراد په پیسو اخلي اوددوي له ایمان اوعقیدي سره مسخري کوي اوله خداي (ج) پرستومجاهدینو نه ، دنیاپرست ، په پیسو اخستل شوي اجیر افراد جوړوي . تاعملا له نورو تنظیمونو سره دجنګ اعلان کړي . اوهرهغه څوک چي ستا موهومي امارت ونه مني هغه مباح الدم ګڼي پواځي ځان اوخو محدود دګوتو په شمیر خپل ملګري موحدین ګڼي اونورو ته مشرک . خرافي اوقبرپرست وائي . بهرته د تعویذنوبندي اودقبرونو عسکونه لیري اوداتبلیغات کوي چي دادي دنورووډلومجاهدین مشرکان دي پواځي ته دصحیحي عقیدي خاوند اوموحدیي . ګویا تاپه کنړکي اسلامي امارت اعلان کړي ، حدود نافذوي، دمخدره موادو وکښت مخه نیسي اوقطاع الطریقان مجازات کوي .

زه تانه وایم :

تعویذونه خوتااوستاپه شان کسانو ورکول اودهغه په بدل کي ئي شکرانی اخستلي .

داتراوسه پوري خوته نسواراچوي حتي په خپلو جلسوکي تفداني مخي ته درته پرته وي . پواځي دعربو په وړاندي له نسواروکولونه ډډه کوي .

ته له توحید نه صرف دومره پوهیږي چي دتعویذنو اوپه قبرونو دبیرغونوپه هکله څه ووائي هغه هم دعربو دخوشحالولو لپاره خودقصورونو په هکله دڅه ویلو اجازه نه درکوي ستاپه توحید کي خوپه قبرجنډي لګول ستر شرک کتهل کیږي اوداله قبرونو نه داستعانت نسبه ګڼي خو که څوک دبوش ته مرسته غواړي پروانلري . که دصلیب ترجنډي لاندي صلیبي ځواکونه اسلامي ملکونه ترپښولاندي کوي پاك نلري او ستادصحیحي عقیدي !! په آئینه کي ناروا اوناجایزنه بریښي . اوددي کاریه هکله څه ویل پدي خاطر لازم ندي چي ستاهغه توحید ته صدمه رسوي چي به ریالوولاړدي . ستاددي جسلي په معناهر باضمیره موحد ښه پوهیږي چي وائي .

انتاتري کثیرا من اموال المسلمین التي اراده‌اداذلوها الخیر تصرف علي المبتدعه والشیعه والخرافیین و القبوریین والفرق الضاله ویحرم منها اهل التوحیداهل العقیده الصحیحة – فعلي المسلمین ان ینتبهوا لذالك قبل ان تکون اموالهم وبالا علیهم في الدنیا والاخرة وربما تعود سلاحا في نحوهم حین یتقوي بهااعداؤهم الذین یتربصون بهم الدوائر .

ماته ووایه :

څوک دمجاهدینو له تقویه کیدو ویروي ؟ اوورته وایي چي کیدي شي ددوي اسلحه په خپله ددوي په خلاف استعمال شي ؟

چاته دامشوره ورکوي چي دبدعیانو خرافیینو قبوریینو . اوګمراه ډلو په ځاي له اهل التوحید سره مرسته وکړي ؟

هرڅوک پوهیږي چي ستامقصدڅه دي ؟ اودڅه لپاره نورخرافي ، بدعتي اوګمراه ګڼي اوځانته اهل توحیدوائي ؟

دافغان مجاهدینو په خلاف په دروغو ویلو لدي سره خیانت مه کوه که افغان مجاهدین په واقعي معنا موحدین اودصحیحي عقیدي خاوندان نه وي نو داسلام په لیارکي به ئي یونیم ملیون شهیدان نه ورکول . دهجرت اوجهاد ستونځي اوکړاوونه به ئي نه ګالل دالله په توکل اواعتمادبه ئي ددنیا دلوي طاقت دمقابلي جرأت نه کولو . کفرته به تسلیم شوي وو . اوغیراسلامي حکومت ته به ئي غاړه ایښي وه ، عجیبه داده چي هغه څوک اوس دشهداوو ورثه اودستګړونوساتونکي باایمانه مجاهدین مشرك ګڼي چي دجهاد په دوران کي دده اودده دکورني دیوه عادي فرد پوزه هم نده وینې شوي . چرګه یي هم نده مړه شوي برعکس دکورني عادي افرادئي اوس په آخرین ماډل موټروکي ګرځي .

٦- واقعي موحد دیوڅ نه وایي . دنیا پرست نه وي له مرګ نه نه ویریږي . دالله په لیارکي قرباني ته تیاروي . له الله نه پرته بل نه طمع اوامیدنه لري . له بل نه خوف اوویره نه ساتي نه ځان اوخپل ملګري دتوحید په آئینه کي وګوره بیاقضاوت وکړه .

زه صرف یو مثال وایم . تاپه اعلامیه کي لیکلي چي دحزب اسلامي داصرارپه وجه ماانتخابات ومنل اوپه نتیجه کي مطلق اکثریت جماعة الدعوة ترلاسه کړ،وحزب اسلامي دانتخاباتو نتائج ونه منل !!

۳ مخ !

دجماعة الدعوة الي القرآن والسنة په خُواب کي

څنګه په بوواقعي موحد دومره ستره دروغ وائي او دخلکو په سترګو کي په خاوري اچوي !!

دکترولس اوټول افغانان خبردي چي په انتخاباتوکي حزب اسلامي اکثريت ترلاسه کړ . نه دي ته حاضرنشوي چي دځينو منظمونتائج ومني . دانتخاباتو دکميسيون فيصله دي ونه منله . اودکميسيون داعلاميي په خلاف دي دروغجن تبليغات وکړل . حال داچي دانتخاباتو دکميسيون مشر مولوي غلام رباني دهل تنظيم دجهاد اميرو . اوهغه په صريحو الفاظو اعلان وکړچي په انتخاباتوکي دمولوي جميل الرحمن دلي تعهدات مات کړي . مخالفت ئي کړي اواکثريت حزب ترلاسه کړي خورودحدت دتامين لپاره دحزب اسلامي او دمولوي جميل الرحمن دولي نتائج مساوي اعلانوو تاداخبره اعلان کړه چي په سلام کي انتخابات نشته مادوحدت لپاره داغيراسلامي کاروکړ اوس نادم يم بيابه داکارنکوم اواسلامي حکومت دجوړولو لپارداده چي امارت اعلان شي اوامپرتورو ته بلنه ورکړي که ئي ومنله بنه ، که نه وي دجهادله لياري به په زور په نورو تحميل شي .

ماته ووايه !

څه شي دغو دروغو ته اړکړي ئي .

داکوم توحيد دي چي تاته ئي دداسي دروغو جوازدرکړي ؟

آياهغه څوك چي په زور دامارت دتحصيلولو شوق کوي اودي کارته جهادوائي هغه په دجنګ عامل وي اوکه هغه چي وائي اميرباپدوامت په خوښه اودجبراواکراه نه پرته وټاکلي شي اودجبراواکراه له لياري تحميل شوي امارتونه ، غيرشرعي امارتونه دي بيعت بايد داکراه اوجبرنه پرته ترسره شي .

۷- زه لدي نه وبريږم چي ستاددي پريشان حالت وجه ، ستامسلسل نقض عهد، اوددنيوي اغراضوپه خاطرتعهدات تريښو لاندي کول نه دي .

قرآن داهل کتابوپه هکله فرمائي :

فبمانقضهم ميثقهم لعنهم وجعلنا قلوبهم قسيه يحرفون الكلم عن مواضعه ونسوا حظاً مماذکروابه - ولاتزال تطلع علي خائنة منهم الاقليلا منهم . الايه

دنقض هغه نتائج چي اهل کتاب ورسره مخامخ شوي اوهرهغه څوك به درسره مخامخ کيږي چي په همدي جرم مبتلاشي په لاندي ډول دي .

۱- دالله لعنت

۲- قساوت قلب

۳- په کلام کي تحريف

٤- دالله له کتاب نه دپنداخستلوڅخه محروميت

٥- په خيانت کي پربوتل .

۸- دحزب اسلامي عادي ماموروته دامارت وزارتونه ورکوي ، بايسکل ئي نه درلود متسويشي موټري ورته اخلي ، خو سره لدي دحزب اسلامي باايمانه مجاهدين چي دالله دکلمي دلوړولو اوديوه واقعي اسلامي حکومت دقائمولو لپاره دحزب سره تعهد لري ستا خواته ودريدل پيغورګڼي اوهغه ضعيف النفسه افراد محکوموي چي په دنياخپل آخرت خرڅوي اودمادي اغراضولپاره خپل تعهدات تريښو لاندي کوي اوديوه وو په شان الخستل کيږي .

هغه پوهيږي چي ديوه اسلامي حکومت لپاره يوقوي اومنظم حزب ته ضرورت لرو داسي حزب چي ټول ملك اداره کړي شي . ددښمنانو دسازشونو دمقابلي توان ولري . په ټول هيواد کي مطرح وي ټول قومونه راغونډ کړي شي . دملي وحدت دتأمين استعداد ولري . دشراوفساد دځواکونو دټکولو قدرت ولري . ورځ دلي چي دډيبي ، قوم اومنطقي په بنيادجوړيږي ، پرته لدي چي دفتنو باعث شي، ملي وحدت ته صدمه ورسوي اودپرديو په لاس کي پريوزي بله نتيجه نه ورکوي . په همدي خاطرستادکلي اوقوم خلك دي خوستايه وزارتونو دحزب اسلامي عادي ماموريتوته ترجيح ورکوي .

۹- حزب اسلامي ، چي دسولي دتأمين لپاره داشرايط وضع کړي چي تش په نامه امارت دي منحل شي . په لياروکي څنځيرونه دي لري کړي شي . دټولو تنظيمونو مرکزونه دي مستردشي اودمجاهدينو په خلاف دي تبليغات متوقف شي . ددي لپاره چي دجنګ عوامل منتفي شي اودواقعي سولي لپاره لپار آواره شي اوبيا دټولو مجاهدينو په خوښه مشترکه اداره جوړه شي اوديوه بل په خلاف دزورنه دکاراخستلو پرځاي دشريعت دتنفيذ اوديوي اسلامي ټولني دجوړولو لپاره به ګډه کاروکړو هغه څوك به واقعا دپيښو مسئوليت په غاړه لري چي ددوکي اوزور لپارغورره کوي اودجګړي اسباب برابروي خوبايد پدي پوه شي چي روسانو دوسلو اوپيسو له لياري په افغان مومن اوزړور ولس حکومت ونشو کړي نوډي به څنګه وکولاي شي چي پدي غلطي لپار هدف ته ورسيږي .

۱۰- موږ په ډاګه داخبره اعلانووچي مولوي جميل الرحمن په کنړکي دفتنوعامل دي که دده په خلاف هرڅه کيږي عوامل ئي ده برابرکړي . ترڅو چي دده غرور اومستي نه وي ختمه شوي په کنړکي آرامي نشي راتلاي . له هغه سره نه دشريعت غم شته اونه دکتر دمجاهدولس وبني ورته اهميت لري . دخپل اقتدار لپاره دافغانانو په وينولوبي کوي ، لکه څنګه چي ده خپل مذهب په پيسو بدل کړي نورهم په پيسو اخلي اودمسلمانانو په خلاف ئي جنګ ته تشويقوي .

دسولي اوروغي جوري ټولو هيئتونو ته ئي منفي ځواب ويلي ، اوپه جنګ اصرارکوي . خو انشاء الله ده ته به خپل زور ډيرژرمعلومه شي .

موږټولومسلمانانو ته داخبره اعلانوو چي دمجاهدينو په خلاف بين المللي سازشونه ورځ په ورځ شدت مومي . ټولوکفري ځواکونو يوه بل ته لاس ورکړي اوددي کوشش کوي چي په افغانستان کي دمجاهدينو په لاس اسلامي حکومت جوړنشي . پدي سازشونو کي ځيني هغه اسلامي ملکونه هم ملوث دي چي اسلامي حکومت . داسلام په لپارکي جهاد اودواقعي اسلام په لوري دامت رجوع خائنه خطرګڼي . دکتر حوادث دهمدغو ځواکونو له خوارامنځته شوي اوددي پيښي ترشا ددوي دخطرناکو جاسوسي شبکو ناولي لاسونه کارکوي .

خوموږ مطمئن يوچي خيرالماکرين الله په دداخلي اوبهرني دښمنانو سازشونه شنډوي او بالاخره به په افغانستان کي دمجاهدينو په لاس اسلامي حکومت جوړيږي . وماذلك علي الله بعزيز .

داسلام آباد اوتهران کنفرانسونه اوديوي ګډي طرحي دنشتوالي ستونزه

استاد سعيد

دوهمه برخه

اوس چي پوځل بيا دايران دخارجه وزارت دبلني په اساس دمجاهدينو يوهيئت ايران ته داګست تر ۲۷ نيټي د مخه سفر کوي ترڅو هلته په دري اړخيز کانفرانس کي ګډون وکړي ، خودامعلومه نه ده چي په دي کانفرانس کي به کوم کوم تنظيمونه ګډون وکړي هلته داسلام آباد په کانفرانس کي خو دځينو تنظيمونو حزب اسلامي اوجمعيت اسلامي اودحرکت انقلاب اسلامي دصديقي صاحب . (چي د ۲۸ کسيز کميسيون منشي هم دي) موقف دا ؤ چي دايران دسفر ترمخه بايد (۲۸) کسيز کميسيون چي دحزب وحدت اسلامي په شمول ټول داوه اوغت تنظيمونه (دمولوي صاحب خالص له تنظيم پرته) يکي برخه لري بايد په يوداسي فارمول توافق وکړي ترڅو په ايران کي بې دوخت ترضايع کيدو پرته په ګډه توګه دپاکستان اوايران دخارجه وزيرانو ترتوافق وروسته اعلان کړي که څه هم ددي دوار و تنظيمونو دا پيشنهاد په ځيني جهادي مشرانو بنه ونه لګيده اوايران ته دږر تللو غوښتنه يي وکړه .خو نه پوهيږ و چي ايران ته به په يوي تصميمه سفر کي څه ګټي وي ځکه هغه چي دملګروملتو دطرحي په هکله په ګډه اعلاميدل هغه خو اعلان شول ، نورترډي زيات به زموږ له مشرانو سره (په داسي حال کي چي کيناستل بي بو دبل سره هم مشکل ګرځيدلي څه وي ، چي په تهران کي پري بحث وکړي . غوره خوداده چي ټول په ګډه باخو تر ۲۷ نيټي د مخه په کومي ګډي طرحي توافق وکړي ، ترڅو پخواله دي چي دايران اوپاکستان په ليکل شوي دريځ کي راګيرشي خپل څه پخپله خوښه نوروته وړاندي کړي، اوکه نه نو په ګډه ايران اوپاکستان ته خبرورکړي ترڅو داکانفرانس وځنډوي او بله نيټه دمجاهدينو په خوښه اعلان کړي . ترڅو زموږ دا ادعا هم درسته راشي چي موږ خپل تصميم په خپله نيسو اوبل ته دمداخلي حق نه ورکوو،البته هغه غړي چي دايران دسفر ډير شوق لري هغوي کولي شي د ايران د سفارت سره خبري وکړي اوخپل شوق پوره کړي . اوکه چيري دايران په کانفرانس کي يوځل بيا ځيني ګډون وکړي اوځيني نوري ونکړي لوښکاره ده چي نتيجه به يې منفي وي . په کارخو دا ده هغه تنظيمونه چي داسلام اباد په کانفرانس کي بې ګډون نه دي کړي هغوي هم ديو ستر اتحا داومتحد موقف په خاطر سره راپو ځاي کړل شي . اودخپل هيواد دراتلونکي په هکله چي دخپل هيواد داسلامي انقلاب اصلي وارثين دي يوه طرحه اوعملي لار اختيارکړاي شي.

اوکه چيري په دي هکله کومه مشترکه طرحه جوړه نشي نو ممکن براځي همغه تنظيمونه دايران په کانفرانس کي ګډون وکړي چي دايران دتللو شوقي دي.

اوهمغه تنظيمونه چي ايران ته دمحض تللو شوق نلري هغوي دلته پاته شي . ښکاره ده دخبرو نتيجه هرڅه چي وي ، ولو که اعلان هم شي منفي به وي . دافغانستان د اسلامي حزب مشر انجنير صاحب حکمتيار په خپلي يوي اعلاميي که داسي ويلي چي " مجاهدين به د ملګرو ملتونو دطرحي په هکله داسلام آباد داعلاميي مندرجه موادو په رڼاکي غورراو دقت کوي اومناسب تصاميم به نيسي . په دي هکله بحث اوځيړنه همدلته صورت نيسي . او تربو توافق وروسته به دلزوم په صورت کي دايران په شمول دوستو هيوادونه هيئتونه ولېږل شي . "

ښکاره ده چي دحزب اسلامي امير هم ددي نظر تائيد اوملاتړ کړي چي تر ټولو د مخه دلته دمجاهدينو ترمنځ په يوڅه توافق وشي اوبيا به ترتوافق وروسته مجاهدين خپل هيئتونه دوستو هيوادو ته ولېږي . لېږي دجمعيت اسلامي مشراستاد برهان الدين رباني هم د ۲۸ کسيز کميسيون تر بوي پريکړي وروسته د ايران دسفر تائيد کړي معلومه نه ده چي که ۲۸ کسيو کميسيون کومي پريکړي ته ونه رسيږي دا مشران به پخپله باخپل هيئتونه ايران ته ولېږي اوکه نه؟ منطقا خو داسي بريښي چي ممکن دي هم دواړه اويا يوددوي دايران کانفرانس کي دکميسيون د نه توافق په صورت کي ګډون ونکړي . تو که دوي هم ګډون ونکړي اوددي نورو تنظيمونو (شوري ائتلاف ،اتحاد اسلامي اوحزب اسلامي مولوي صاحب خالص) خولا له پخوا څخه په دي غونډو کي ګډون تحريم کړي . هم استاد سياف اوهم مولوي صاحب خالص ايران په دي متهم کړي چي هغوي دمجاهدينو داتحاد په ځاي د افغانستان دتجزيي کوشش کوي . اوددي خبري له پاره اساس دايران دحکومت دا موقف ګڼي چي بايد حزب وحدت ته په خبرو کي ديوه فريق په حيث ونډه ورکړل شي ، اوکه ديوه فريق په حيث نه وي نو بياخو بايد ددوه تنظيمونو په اندازه برخه ورکړل شي . حال دا چي داسلام اباد ترکانفرانس وروسته دجولاي په ۳۱ نيټه دشپي په ۷/۳۰ بجو حضرت صاحب صبغت الله مجددي په يوه مطبوعاتي کانفرانس کي ديوي پوښتني په ځواب کي دا په ډاګه کړه چي موږ به پر ۲۸ کسيز کميسيون کي په ايران کي حزب وحدت اسلامي ته ددووکسو اودلته هريو شوراي ائتلاف اوحرکت اسلامي ته ديويو کس نمايندګي ورکړي . په داسي حال کي چي په پيښورکي ۷ تنظيمونه هريو په دي کميسيون کي دري دري کسه لري او د ټولو کوچنيو تنظيمونو ديويو کس په واسطه نمايندګي کيږي .

داسلام آباد دکانفرانس ترشروع د مخه دبين المللي مطبوعاتو له خوا دايران په هکله څه شکمني ځرګندوي شوي وي اوهغه لاتراوسه پوري په خپل ځاي دي لکه چي ليکي چي که دايران دولت په ايران کي دميشته مجاهدينو دتنظيم حزب وحدت اسلامي له پاره په راتلونکي موقت ميکانيزم کي دڅه زياتو حقوقو غوښتنه وکړي نو ښکاره ده چي دنورو مجاهدينو ځواب به ولايتي اودهغي هيئت ته پوره سوړ اوسړه مهره وي همدا راز ليکي چي په دي تير يوه کال کي دايران دحکومت دکابل له رژيم سره نژدي والي ،دکابل دړژيم دمشر نجيب سفر مشهد ته ، دځيني جهادي مشرانو لپاره دنجيب سره دليدني کتني فضا برابرول ، داريانا افغان هوايي شرکت دايران په خاوره کي د کوزيدو حق ا د کمونيست رژيم تر راتلو وروسته نژدي ټولي اسلامي ټوپي د اريانا شرکت الوتکي دکوزيدو له حق څخه محروم کړي) ورکول ...... دمجاهدينو په ذهنونوکي څه شکوك راپيدا کړي !! له بلي خوا داسي شواهد هم شته چي دحزب وحدت اسلامي اودکابل دړژيم دنمايندګانو ترمنځ هم دا يران له خوا څه پيشرفت شوي.

دروسانو اوحزب وحدت ترمنځ خولاپخوا اړيکي کلکي دي ،باوري منابع وايي چي په ۲۸ کسيزکميسيون کي دبرخي اخستوله پاره دحزب وحدت هيئت مخکي له دي نه چي پاکستان ته سفر وکړي دروسي هيئت سره مفصله ليدنه کتنه وکړه .

- ايران ټل کوشش کړي چي د حزب وحدت شيعه جهادي تنظيمونو چي يواقليت تشکيلوي ، ډيرسترګوند په حيث دټولو بين المللي هيئتونو سره مخته کړي او ددي خبري يوعملي ثبوت په راولپنډي کي دمشورتي شوري له جوړښت نه تر اوسه پوري په مسلسله توګه په نظرراځي. د ايران حکومت هيڅکله دشيعه مجاهدينو هيئت پر ينځبود چي دخپلو نورو مجاهدوورونو سره يوځاي کيني اوخپله مسئله پخپله حل کړي يوځل کله چي حضرت صاحب مجددي اويل ځل د انجنيرصاحب حکمتيار د ۱۹۸۹کال دفبروري دمياشتي په لمړي ورځو کي دشيعه تنظيمونو د مجاهدينو دهيئت سره دليدلو له پاره اسلام آباد هرڅه ته ولاړل هلته هغوي دهغه مجاهدينو دهيئت د مشرعبدالکريم خليلي او ورسره هيئت سره يې تفصيلي خبري وکړي.

(عبدالکريم خليلي اوس دخپل تنظيم "سازمان نصر" مرکزي دفتر د ايران څخه پيښور ته را انتقال کړي) اوله هغوي سره دمجاهدينو داپريکړه چي دهغوي ۶۰ کسه به په مشورتي شوري کي ګډون کوي تر بحث لاندي راغله ، ددواړو خواو له نظر څخه دا په ډاګه کيده چي ممکن په ۷۰ - ۸۰ کسانو سره راضي شي . خو دايران ددولت درسمي مامورينو موجوديت اودهغوي مداخلي دامسئله دومره کړکيچنه کړه چي په ايران کي ميشته مجاهدين د يو ستري تاريخي غونډي څخه بي برخي شول . (په دي لړ کي دايرا ن دولتي هيئت اودمجاهدينو ځيني مشرانو ترمنځ په مدينة الحجاج کي ستغي سپور ي هم رد ويدل شوي) همدا ډيره مباشت کله چي په ايران کي ميشته مجاهدينو ته په ۲۸ کسيز کميسيون کي د ګډون کولو دعوت ورکړل شو، يوځل بيا هغوي په عددي جنجال کي راګير شول او پر دي کميسيون کي له برخي اخستي نه هم بي برخي شول ، که څه هم اوس بي معمولي نمايندګي په پيښورکي ميشته نماينده کوي . تراسلام آباد کانفرانس وروسته د ايران دولتي مقاماتو ته په کار و چي د تهران کانفرانس د تياريدو له پاره دحزب وحدت اسلامي يوهيئت دلته په پيښورکي پريږدي ترڅو مجاهدين مشترکا يوي ګډي پريکړي ته رسيدلي واي اما متاسفانه داسي ونه شول همدا سبب ګرځيدلي چي ځيني جهادي تنظيمونه له ايران سره په خپلو روابطو تجديد نظرکولو ته مجبور شول ، ايران ته لکه د پاکستان په څير په کارو چي د افغانستان دملت په هکله په مجموعي توګه فکر وکړي ځکه ورو کارونو سره هغه په خپله ووږ ښکاري او دافغانستان دملت اعتماد په خپله برخه کي دلاسه ورکوي.

اودا سبب دي چي داستاد سياف تنظيم په ډاګه ايران د افغانستان په ملت کي داختلاف په راپيدا کولو متهم کړ.

په هغه بيانيه کي چي دکانفرانس تر اختتام د مخه په ۳۱ دجولاي په پيښور کي داتحاد اسلامي ګډون کوونکي هيئت لخوا خپره شوه ، ويل شوي چي موږ د افغانانو په هکله دايراني موقف پرخلاف دا غونډه ترك کوو ځکه ايرانيان د افغانستان دآزادي اوهلته ديوه اسلامي حکومت له جوړښت سره ډيره کمه علاقه لري ، دوي اسلام آباد ته په دي خاطر نه دي راغلي چي د افغانستان دموضوع دحل له پاره کوم قدم پورته کړي بلکي دوي ددي دپاره راتګ څخه ګوډمنه لري :

۱- " ايراني هيئت غواړي دا غونډه څلوراړخيزه وي ، ايران ،پاکستان په ايران کي ميشته مجاهدين اويه پاکستان کي ميشته مجاهدين .

۲- دايران ددي نظر څخه دا په ډاګه کيږي چي ايران د افغانستان تقسيم غواړي.

۳- دايران دا کوښښ چي دخپلو طرفدارو ډلو له پاره په غونډه کي غير ضروري زياته برخه وغواړي د افغانستان په داخلي اموروکي تيغ په تيغه مداخله ګڼل کيږي ، داسي معلوميږي چي ايران غواړي د ملګرومللتو نوهغه پنځه نقره ايز پلان چي مجاهدينو لا له پخوا مسترد کړي په مجاهدينو باندي تحميل کړي.

انجنير حکمتيار هم اشارتاً په خپله اعلاميه کي ويلي چي :" موږ د ټولو دوستانو څخه ارزو لروچي دخپلو افغاني ورونو سره کومك اوتعاون وکړي ،ترڅو د خپل راتلونکي سرنوشت په خپله وټاکي ،اودبهرني فشار اومداخلي پرته دخپل ايمان اوعقيدي په رڼا کي اودخپلو ملي ګټو د په نظرکي نيولو سره سم خپله نګ لاره وټاکي اوپه افغانستان کي دخپلي خوښي اسلامي حکومت منتخب کړي.

موږ هغه کسان خپل دوستان ګڼو چي زموږ دملي وحدت دتامين له پاره زموږ سره کومك اوتعاون وکړي، هغه څوك چي دافغانستان دتجزيي اوقومي ،مذهبي اوژبني تعصب دخپريدو له پاره او دمجاهدينو ترمنځ داختلافاتو د راپيداکولو له پاره هڅه وکړي .

په هيڅ ډول به دافغانستان د ملت دوستان ونه ګڼل شي "

په کار خو داوه چي ايران دخپلو اوسنيو سياسي کوښښونو په رڼاکي کوښښ وکړي ديو څومخصوصو اوبلوي ډلو پرځاي دټولو مجاهدينو سره ځانونه نژدي کړي اوټول معاملات په پوره تفاهم مخته يوځي ، ترڅو دايران دملت ارزښتناکه قرباني چي دافغانستان له مسلمان ملت سره څنګ په څنګ بي دهغوي په روا اوحق جهاد کي ورکړي خپل ځاي ونيسي او زموږ د مجاهد ملت احساس په خپل لوري يوځل بيا لکه پخوا په څير راواوړوندي کړي.

دمجاهدينو مشران په دي حساس وخت کي چي له يوي خوا هلته په داخل کي دمجاهدينو د جهاد څپي مخ په زياتيدو دي او دبلي خوا نه د سياسي حل په نوم دسازشونو جال خپور دي بايد له پوره دقت څخه کارواخلي ،خپل هرقدم وزن اوبيا بي پورته کړي ډيره کمه اشتباه ممکن دملت قرباني په اوبو لاهو کړي. محض سفراوميلمستيا ته بايد خوشحال نه شي ،ملت او اسلامي امت ددوي لوري ته سترګي په لار دي ،مجاهدين قرباني ديوهدف په خاطر ورکوي او هغوي په دوي باندي پوره باور اواعتماد کړي غوره به وي چي ټول بين المللي کانفرانسونه ترهغې پوري چي په خپلو منځوکي متحدا کومي پريکړي ته نه وي رسيدلي وروسته پريږدي .

ځکه د افغانستان ملت ددوي دهغي پريکړي له پاره انتظارباسي دکومي له پاره يي چي خپل دزړه غوښي قرباني کړي (د مسلحانه جهاد په واسطه دکمونيست رژيم نسکورول او پرځاي يي دسوچه اسلامي حکومت جوړول .)

دحضرت ابوبکررضي الله عنه دتقوائو بيلګي

«محمد خليل»

ابن سعد له حضرت عائشه رضي الله عنهانه روايت کوي چي کله حضرت ابوبکررضي الله عنه دمرګ په ناروغي پربوت نودي فرمائيل : موږدخپل خلافت په وخت کي دمسلمانانو له مال نه يودرهم يايودينارندي اخستي بس ساده دوډۍ موخوړلي اوساده جامي مو آغوستي . تاسو زمادجائيداد اندازه واخلي اودخليفه کيدونه وروسته چي څومره زيات والي راغلي دي هغه نوي خليفه ته ولېږي ترڅو زه له مسئوليت نه خلاص شم ځکه چي زه ځانته دمحنت اومشقت معاوضه حلال ګڼم .

حضرت عائشه رضي الله عنها وائي چي کله حضرت ابوبکررضي الله عنه وفات شو نوموږدهغه دمال اندازه واخسته يوحبشي غلام ئي وچي ماشومانوته به ئي دوډۍ برابروله يوبي اوښ و چي دارېټ په ذريعه به ئي دباغ ونوته اوبه ورکولي ، يوشليدلي څادرئي وچي اغوسته به ئي، موږهغه ټول شيان حضرت عمررضي الله عنه ته ورکړل . عمررضي الله عنه په ژړاشو اودومره ئي وژړل چي څڅو څڅواوښکوئي ځمکه لمده کړه . هغه رضي الله عنه دژړا په حالت کي وويل الله پاك دي په ابوبکررحم وکړي . بيابي وويل داماله لدي ځايه يوسي ، عبدالرحمن بن عوف وويل سبحانه الله تاسودامال چي ټول قيمت بي پنځه سوه درهمه هم نه کيږي بيرته اخلي ! حضرت عمررضي الله عنه وفرمايل نوبيا ستاڅه مشوره ده ، حضرت عبدالرحمن وويل : کورووالاو ته ئي واپس ورکړي . حضرت عمررضي الله عنه وويل نه په هغه لوي الله قسم چي محمد صلي الله عليه وسلم ئي په حقه ليږلي دي داسي نشي کيداي چي حضرت ابوبکرصديق دي دمرګ په وخت کي له دغوشيانو څخه لاس په سرشي اوزه دي هغه اهل اوعيال ته بي بيرته وسپارم . مرك لدي نه ډيرزيات نژدي دي .

حضرت عائشه وايي : چي کله دحضرت ابوبکر (رض) طبيعت ډيرخراب شو نو پوښتنه بي وکړه نن دڅه ورځ ده ؟ ورته وويل شول چي ددوشنبي ورځ ده ، پوښتنه ئي وکړه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په کوم ورځ وفات شوي و په ځواب کي ورته وويل شول چي ددوشنبي په ورځ . هغه رضي الله عنه وفرمايل نن شپې پوري هيله ده ، بيائي پوښتنه وکړه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته مودکوم رخت نه کفن وراغوستي و؟ حضرت عائشه رضي الله عنها وويل : دري سپينوښني کيږي چي پکي کميس اوپګړي نه وه . بيا حضرت ابوبکر وفرمايل : تاسوګوري چي زمادوه واړه حادرونه دي داووينځئ اوماته کفن ترينه جوړکړي .

حضرت عائشه رضي الله عنها عر ض وکړاي پلاره ! الله پاك پخپل احسان ډيرڅه درکړيدي موږتاته نوي کفن اخلو پلاربي ورته وويل : نوجاموته له مړونه ژوند وته زيات ضرورت دي ، مړي خوبالاخر بوسيده کيږي .

ابن سعد له زيدبن اسلم نه هم روايت کړيدي چي حضرت ابوبکررضي الله عنه يومشهورتجارو دمحمدصلي الله عليه وسلم دبعثت په وخت کي ورسره څلويښت زره درهمه و. په هغه به بي غلامان آزادول اومسلمانان به بي قوي کول . دوفات په وخت کي دبيت المال شپږزره درهمه قرضدارو . دمرګ په وخت کي بي وصيت وکړ چي پرمادبيت المال شپږزره درهمه قرض دي په فلان ځاي کي چي زمامباغ دي هغه خرڅ کړي اودابيسي بيت المال ته ورکړي .

حضرت عمررضي الله عنه ته چي داخبره ورسيده نووي فرمايل الله پاك دي په ابوبکر رحم وکړي هغه غواړي چي له هغه نه وروسته خلکوته څه خبره پري نږدي، زه له هغه نه وروسته خليفه ټاکل شوي يم داماله تاسوته واپس درکوم .

له انتقال نه وروسته حضرت عمررضي الله عنه اناالله اوانااليه راجعون ولوست اويه ژړابي وويل : اي ابوبکر ! الله پاك دي په تارحم وکړي تاله ټولو خلکونه مخکي اسلام قبول کړ تاسويه ايمان کي له ټولو خلکونه زيات مخلص اويه يقين کي له هرچانه زيات پوخ وي .

ستاسو زړه ډيرغښتي اودرسول الله صلي الله عليه وسلم زبردست ملګري اودوست وي مسلمانانو سره دي ډيره مينه اوهمدردي درلوده ، تادرسول الله صلي الله عليه وسلم تصديق په هغه وخت کي وکړ چي نوروخلکوئي تکذيب کول، نورو ورسره بخل کول اوتاورسره غم خوري کول خلك به ناست و اوته به درسول الله(ص) په څنګ کي ولاړوي .

الله پاك پخپل کتاب کي ستانوم صديق اېښي دي، رښتوني دين راوړونکي محمدصلي الله عليه وسلم دي اوتصديق کوونکي تاسوياست .

تاسود اسلام لپاره کلا اودکفارولپاره عذاب وي ، تاسويه دليل کي کله هم کمزوري شوي نه ياست ، ستاسوزړه هميشه قوي اوبصيرت مومضبوط پاتي شوي . تاسوهغه غروي چي طوفان ونه شي خوزولي ، درسول الله صلي الله عليه وسلم دوينا په مطابق تاسويه بدني لحاظ سره کمزووي ليکن دالله پاك په کارونوکي ډير مضبوط وي . پخپل زړه کي عاجزليکن دالله په نزد عظيم وي . ستاپه نزد قوي ترهغه ضعيف و ترڅوچي ترينه حق دي نه و اخستي اوکمزورستاپه نزدترهغه قوي و ترڅوچي دي ورته حق نه و ورکړي .

دصديق اکبررضي الله عنه له ارشاداتوڅخه يوڅو ملغلري :

۱- له دروغونه ځان وساتي ځکه چي دروغ دايمان ضددي .

۲- مرګ سره مينه وکړي چي ژوند مو په نصيب شي .

۳- له هرڅه نه لوي حکمت تقوي اوله هرڅه نه لوي حماقت فسق اوفجور دي ، له هرڅه نه لوي رښتونو لي امانت اوله هرڅه نه لوي دروغ خيانت دي .

٤- دنفرت اومحبت آثارنوروته هم منتقل کيږي .

٥- مصيبت له وينا سره ملګري دي .

٦- دغه دري خويونه چي په چاکي وي نوهغه به ورته عذاب جوړشي ، ظلم بدکاري دوهم بدعهدي دريم عياري اومکاري .

۷- زماله هغه کورني سره نفرت اودښمني ده چي دځوروڅوخوراکه په يوورځ کي ختموي .

۸- صبرنيم اويقين کامل ايمان دي .

د نوم بدلول

ورورميرزامحمد دعطامحمد زوي دوردګواوميدان ولايت دچك ولسوالي دبغه لان دکلي اوسيدونکي چي اوس دپيښوردراحت آبا دعلوم اسلاميه دمدرسي طالب العلم دي خپل نوم په عبدالرحمن " وفا" بدل کړي له دوستانوڅخه ئي هيله کيږي چي پس له دي نوموړي وروريه نوي نامه سره وپيژني .

غرض اشتي بين جماعت اسلامي پاکستان و (M.Q.M) درايالت سندکميته صلح تشکيل گرديد

سند ۲۶ر٥ر۱۳۷ :

نوازشريف صدراعظم پاکستان بعدازملاقات يك ساعته اش باالطاف حسين رهبرقوم مهاجر درمنزل رهايشي اش واقع عزيز آباد کراچي به خبرنګاران گفته است : کميته خاصي را به سرپرستي چوهدري شجاعت حسين وزيرداخله تشکيل نموده تارنجش هاي راکه ازغلط فهمي ها بين جماعت اسلامي وقوم مهاجر ناشي شده است دورکند .

آقاي چوهدري شجاعت حسين وزيرداخله بعدازبازگشت ازکراچي به اسلام آباد به خبرنګاران گفت : سراز روزسه شنبه فعاليت هاي خودرا درجهت صلح ميان دوجماعت آغازخواهد کرد وي بتاريخ ۱۳ اګست بارهبران جماعت اسلامي درمرکزجماعت واقع منصوره لاهور ملاقات مي نمايد که دراين ملاقات وزير انرژي آقاي "نثارعلي خان نيز حضورخواهد داشت .ومتعاقب آن بارهبران قوم مهاجرنيز ملاقات خواهد کرد .

آقاي شجاعت حسين گفت : گرچه وجوه اندك رنجي جنجال وخفګان جانبين برايم معلوم نيست ولي متيقنم که هردوجانب به زودي تمام معضلات شانرا روي افهام وتفهيم حل خواهند کرد .

وي علاوه نمود که به سلسله همين موضوع با آقاي عظيم احمد طارق رئيس جماعت قوم مهاجر مذاکرات تفصيلي نموده وآقاي طارق وعده داده که در مذاکرات صلح شرکت خواهد کرد .

د ورور حکمتیار له خوا د «مؤمن» سورت ترجمه او تفسیر

"فوقه الله سيئات مامكروا وحاق فرعون سؤالعذاب" الله (ج) (مومن بنده يامؤسي)دفرعون اودهغه دملګروملا اودرباريانو له مكراوله كيدنه خوندي وساته داسي معلوميږي چي كله هم دامومن بنده دفرعون په درباركي دموسي عليه السلام نه دفاع كوي نوهغه دمره مهم شخصيت دي چي فرعون څرګندطوردهغه پرخلاف دڅه كولو جرئت نه كوي، فرعون دي ته متوجه شوي چي اوس دموسي عليه السلام دعوت تردي حده پوري نفوذ كړي، حتي دربارته يي هم لارموندلي دهغه ډېر نږدي ملګري هم له دي دعوت نه متاثر شوي ، چي دا ددرباريانوله جملي نه يوكس پورته كيږي اودموسي عليه السلام نه په جرئت اوقاطعيت سره دفاع كوي اوپه پاي كي خپل ايمان هم څرګندوي، هغه ته ويره اوخوف پيداكيږي په دي خاطرپه حرګند طور دهغه پرخلاف دڅه كولو جرئت نه كوي .

خوپه پټه كي تدبيرونه سنجوي ، اوفرعون اونوروتبردي ملګرو ني چي دده پرخلاف كومه توطئه كړي، كوم مكراو پټ تدبيرني سنجولي، الله (ج) فرعون ته ددي موقع ورنكړه چي دي مومن بنده ته صدمه ورسوي په دي ترتيب الله (ج) مسلمانانو ته اطمينان وركوي، كه تاسوپه جرئت سره له حق نه دفاع وكړه نوالله (ج) په دي قادردي چي تاسوددښمنانوله مكرنه وژغوري بايد واوه اومطمئن اوسي ګوري له موسي عليه السلام نه ني هم دفاع وكړه ، دفرعون په درباركي يي داسي څوك راپيداكړ، چي له هغه نه دفاع اوحمايت وكړي، همغه موسي عليه السلام چي ګوري فرعون اوتول رژيم اونظام يي غواړي هغه په قتل ورسوي ، ماشوم دي دكورماشوم ، موږني په صندوق كي اچوي، اويوكي يي لاهو كوي، الله (ج) دهغه حفاظت اوساتنه كوي، دفرعون په كوركي ني ساتي ، بيادهغه دقتل اراده كوي هجرت كوي اوبل ملك ته پناه وري، دوباره راحي فرعون اوتول رژيم غواړي هغه په قتل ورسوي، ولي په دي نشي توانيداي حتي الله (ج) دفرعون په درباركي دهغه لپاره مدافع اوحامي راپيداكوي، په دي باندي باورلري چي خداي (ج) بصير دي خپلو مومنوبندګانوپه حال واقف دي، دهغوي مرسته اوساتنه به كوي ګوري چي الله (ج) دهغه حمايت هم وكړ ." فوقه الله سيئات مامكروا " پس الله وژغورلوده‌دوي له بدومكرونونه ، " وحاق بال فرعون سوالعذاب " اونازل شو دفرعون پرملګروفرعونيانو " سوالعذاب " بدعذاب ، مخكي تردي [illegible] موسي عليه السلام پرخلاف څه وكولاي شي يادددي مومن بنده پرخلاف څه وكړاي شي ، ګوري [illegible] الله (ج) موسي عليه السلام ته دهجرت امر وكړ، اوهغه دشپي خپل ياران خبركړل بني اسرائيل چي دهجرت له پاره آمادګي اوتياري ونيسي هغه هجرت وكړ، فرعون دخپلو لښكروسره دموسي عليه السلام تعقب وكړاوبالاخره هغه هم له خپل تول لښكرسره په بحركي غرق شو، همغه بحرچي دموسي عليه السلام له پاره وچاودواوهغه ته ني لارووكړه په داسي حال كي چي تول ملګري هم پريشان دي اوواني چي نورمونږنيولاي شو ." اناالمدركون " تول دموسي عليه السلام خواته راغونډ يي ګوري ترشادفرعون لښكري راورسيدي، مخي ته بحرحائل دي، لاروياندي تړل شوي، راحي موسي عليه السلام ته واني چي مونږنيولاي شوو، دنجات لارشته؟ دادي لښكرراورسيده ، اودنجات هيڅ امكان نشته ، موسي عليه السلام ورته واني چي كلا ان معي ربي سيهديكم . داسي نه ده لكه چي تاسوګمان كوي بلكه ز ماسره ز ماالله (ج) دي هغه به ماته دنجات لارښيي ، بحرچوي اوموسي عليه السلام اوملګروته ني لاروركوي، اوبه همدغه بحركي چي موسي عليه السلام ته په هغه سره الله (ج) نجات وركوي، فرعون دخپلو لښكروسره په هغه كي غرقيږي اوپه دي ترتيب ګوري چي موسي عليه السلام اوملګري هم الله (ج) دفرعون له مكر، ضرور اوشرنه ساتي، اوهمدغه مومن بنده هم چي په جرئت اوقاطعيت سره پورته شوي له حق نه دفاع كوي اودموسي عليه السلام حمايت كوي هغه هم الله (ج) وساته . النار يعرضون عليها غدوا وعشيا .داپه‌عذاب هغه اوردي چي دوي به سبا اوماښام هغه ته عرضه كيږي او وړاندي كيږي، دقيامت ترورځي به فرعون اودهغوي ملګري دبرزخ په ژوندكي سبااوماښام ددوزخ اورطرف ته عرضه كيږي ، دادوزخ به وربښودل كيږي ، اودهغه په عذاب به معذب كيږي ، دابرخه ددي آيه صريح اشاره دي طرف ته كوي چي برزخ عذاب حق دي ، دبرزخ ژوند حق دي ، ګوري چي فرعون اوملګري به ني دقيامت تروزځي پوري سبا اوماښام داورطرف ته وړاندي كيږي ، دوي به هميشه داعذاب ګوري، دهغه دهيبت اوخوف نه به ويريږي ، اوپه دي سره به تعذيب كيږي، لكه چي حديث شريف كي راځي چي قبردادوزخ له كندونه يوه كنده ده اويادجنت دباغچو

> همغه څوك چي په جرئت اوقاطعيت سره دموسي عليه السلام نه دفاع كوي دموسي عليه السلام اودحق ملګرتياكوي، خپل ځان الله (ج) ته حواله كوي، په دي باندي باورلري چي خداي (ج) بصير دي خپلو مؤمنوبندګانوپه حال واقف دي ، دهغوي مرسته اوساتنه به كوي

نه يوه باغچه ده ، څوك چي مومن وي، هغه به هم په قبركي هميشه دجنت له نعمتونو نه خوند اولذت اخلي، اودجنت لوري ته به يوه دريچه دهغه له پاره خلاصه وي اوهغه به جنت ګوري اوترقيامته پوري دااوردعمريه دبرلنديرهغه تيريږي ، هميشه به ددي طمعه لري چي ژردي جنت ته داخل شي . اوكافربه هم دقبريه دوران كي چي ددوزخ طرف ته دهغه له پاره يوه دريچه خلاصه شوي وي او تري نه ويريږي ، چي دا هغه داوسيدوځاي دي، په دي سره به تعذيب كيږي " النار يعرضون عليها غدوا وعشيا ويوم تقوم الساعة " اوهغه ورځ چي قيامت قائم شي ، قيامت ودريږي دقيامت ورځ راشي . " ادخلوا ال فرعون العذاب " نوداللہ (ج) له طرف نه به وويلي شي چي داخل كړي فرعونيان سخت عذاب ته ، هلته به دالله (ج) له طرف نه فيصله وشي، اوامربه وشي چي اوس تول فرعونيان دي شديد عذاب ته ننه باسي، " واذيتحاجون في النار فيقول الضعفاء للذين استكبروا اناكنالكم تبعا فهل انتم مغنون عنانصيبا من النار " هغه ورځ چي په اوركي به ديوبل سره مجادله اوكشمكش كوي يوبل به ملامتوي اوداپيروان خپلو مشرانوته بدرد واني اوواني به چي تاسوزمونږ دګمراهي اوپه اور كي دبريدتو باعث شوي اوهغوي به ځان ته برائت وركوي اوالزام به پردوي واردوي ، تاسي وي چي زمونږ متابعت موكاوه ،اوپه دي ترتيب موزمونږ غروراوتكبر زياتوه اوكه تاسونه واي ، مونږبه هم داتكبراولوئي نه كوله ، اودحق لاره به موغوره كړي وه ، دغسي به په خپلومينځونوكي مجادله اوكشمكش كوي، په مونږ باندي الزام مه واردوي تاسوخپله ملامت ياست ، مونږ خوبه تاسوباندي كوم سلطه اوسيطره نه درلوده ، شيطان ، دكفارومشران اوتابعداران بي ، داتول به يوبل ملامتوي اودهغوي ترمينځ به دامجادله او كشمكش وي " فيقول الضعفا للذين استكبروا " نوواني به ناتوانان اوضعيفان چي ددي مستكبرينو پيروي اومتابعت يي كاوه۔للذين استكبروا، هغوته چي خپله لوئي ني غوښته ، دخپلي لوئي په فكركي وو، غوښتل ني چي دهغوي لوئي دي برقراره پاته شي، نودغومتكبرينو ته به واني " اناكنالكم تبعا " يقينا مونږستاسو پيروان وو، ستاسو متابعت موكاوه ، " فهل انتم مغنون عنانصيبا من النار" پس آيا تاسويي چي دفع كړي له مونږنه يوه برخه دعذاب ، اوس له مونږنه لري كړي، اولږني راكم كړي آياكولي شي له عذاب نه دژغورني په حصه كي له مونږسره مرسته وكړي، چي بوقسمت يي راكم كړي .

مونږ خوپه دنياكي ستاسو متابعت كاوه۔ددي مقصد دانه دي چي هلته به دوي له دي متكبرينو نه دا طمع لري، بلكي الله (ج) په دي ترتيب سره مسلمانان ، لاچي تول انسانان دي ته متوجه كوي چي ګوري كه مويه دنيا كي ددغومتكبرينو پيروي او متابعت وكړ، نوپه آخرت كي به له تاسونه بيزاروي اوله تاسونه به دالله (ج) دعذاب دراكمولو توان نه لري بيابه هلته ستاسو ترمينځ دغه كشمكش روان وي ، ګوري به چي ضعفا به مستكبرينو ته واني . چي مونږخوپه دنياكي ستاسو متابعت كاوه آيااوس تاسوكولاي شي چي زمونږ ددي عذاب يوه برخه راكمه كړي، " قال الذين استكبروا اناكل فيهاان الله قدحكم بين العباد " مستكبرين به وواني " اناكل فيها " مونږ تول په دي اوركي يوپه دي عذاب كي مونږتول اخته يو، اوس ديوبل مرسته نشوكولاي ، ګوري چي مونږهم له تاسوسره په دي عذاب كي پريوتي يو، ان الله قدحكم بين العباد " اويقينا چي الله (ج) دخپلو بنده ګانو ترمينځ فيصله وكړه ، اوس مونږيه دي كي څه تبديلي نشو راوستلاي، له مونږ نه اختيارسلب دي، هغوي به هلته اعتراف كوي چي دفيصلو مالك اوواكدارخداي (ج) دي، اواوس چي الله (ج) دخپلو بندګانو په باب فيصله كړي اوددي حكم اوفيصلي په اساس مونږتول په اوركي يو، ديوبل له مرستي نه اوس عاجزاوناتوانه يو، دقيامت په ورځ به مستكبرين په دغه خبره اعتراف كوي ." وقال الذين في النار لخزنة جهنم ادعواربكم يخفف عنا يوما من العذاب " اوويه واني هغه كسان چي په اوركي دي"لخزنة جهنم " داورمتصرفو ملايكو ته ، هغه ملائكو ته چي داور كارهغوي ته حواله شوي، پردوزخ باندي مكلفي دي، په دوزخ ماموررو ملايكو ته به وواني " ادعواربكم " خپل رب ته دعاوكړي " يخفف يومامن العذاب " چي كمه كړي زمونږله عذاب نه يوه ورځ ، پوهيږي به چي نوردهغوي دعانه اوريدل كيږي، ځكه ني عذراوزاري كړي وي ، خوچابه دهغوي فريادااوريدلي نه وي ، په پاي كي چي وګوري ديوبل مرسته هم نشي كولاي ، اوداددوي رهبران، مشران، سناديد، اشراف ، ملئ اودرباريان اومستكبرين داهم دهغوي دمرستي نه عاجزدي، په پاي كي به ملاتكو ته وواني په اوردماورو ملاتكوته چي الله (ج) ته دعاوكړي، چي دورځي خوبو څه ددي عذاب نه له مونږنه راكم كړي، خوملاتكي به هغوي ته په ځواب كي وايي " قالو اولم تك تأتيكم رسلكم بالبينات "آيا تاسوته ستاسي پيغمبران راغلي نه وو " بالبينات " له ښكاره دلايلوسره تاسي ني دالله (ج) طرف ته رابللي نه وي؟ اوددي دعوت لپاره يي

> الله (ج) مسلمانانو ته اطمينان وركوي، كه تاسوپه جرئت سره له حق نه دفاع وكړه نوالله (ج) په دي قادردي چي تاسوددښمنانوله مكرنه وژغوري

څرګنددلايل نه وو وړاندي كړي، " قالوبلي " هوكي همداسي وو مونږ ته پيغمبران راغلي وو اودخپل دعوت اوحقانيت لپاره ني ښه څرګنداوواضح دلايل وړاندي كړي وو " قالو ا فادعوا " ملائكي به وواني چي اوس ددي مجال نشته چي مونږ ستاسو له پاره دعاوكړو، تاسو خپله دعاوكړي "ومادعوا الكافرين الافي ضلال" بيابه ملائكي وواني چي تاسو دومره واني تاسوپوهيږي او اوكارمو، مونږ له تاسونه بيزاريو، ستاسو له پاره ددعاكولوحق نه لرو، ستاسوپه باب حجت اتام ته رسيدلي ، پيغمبران راغلي اوبينات ني تاسوته وړاندي كړي، تاسوچي دكفراوطغيان لارغوره كړي، اوس مونږدستاسو په باب دعانشوكولاي، كه تاسويي خپله كوي وه بي كړي ده خوپه دي يوه شي چي "ومادعوا الكافرين الافي ضلال" اونه به وي دكافرانودعامګرپه تباهي اوګمراهي كي ، دهغوي دعابي نتيجي پاته كيږي، څوك ني نه اوري الله (ج) يبي نه اوري، بابه دالله (ج) له طرف نه وويلي شي چي دكافرانودعاپه ضلال كي ده ، په هغه باندي څه نتيجه نه مرتب كيږي اوددي ته څه ګټه نشي رسولاي . دقيامت په ورځ به بيادادعاګاني فايده نه كوي، هلته چي تاسي عذاب وګوري، الله (ج) خپله فيصله وكړي، دتوبي دروازي هم بندي وي اودعاهم نه منل كيږي ، كه دعاكوي اوكه توبه باسي اوس ني وخت دي اوس دخداي (ج) طرف ته رجوع وكړي اومخكي له دي نه چي دتوبي دروازي بندي شي، اوس چي الله (ج) دبنده دعامني اوتوبه ني قبلوي ، اوس رجوع وكړي، مخكي له دي نه چي بيا دالله (ج) عذاب په تاسونازل شي، بيا دي هلته دعانه اوريدل كيږي ." انا لننصررسلنا والذين امنوافي الحيوة الدنيا ويوم يقوم الاشهاد " يقينا مونږ حتما مرسته كوودخپلو پيغمبرانو " والذين آمنوا " اوهغوكسانو چي ايماني ني راوري " في الحيوة الدنيا " ددنياپه ژوندكي " ويوم يقوم الاشهاد" اوهغه ورځ چي ګواهان اواشهادپه پښو ودريږي ، هرڅوك ګواهي وركوي شاهدان ودريږي دګواهي له پاره دالله (ج) په وړاندي او پرخلكو ګواهي اوشهادت وركوي، دقيامت په ورځ به هم الله (ج) دخپلو پيغمبرانو او دمومنانو مرسته كوي، اوپه دنياكي هم ، هلته به هم هغوي فاتح اوغالب وي او دلته هم ، پس په دنياكي هم دالله (ج) سنت دادي چي فتح اوكاميابي به له مومنانو اود هغه چاپه برخه وي چي دپيغمبرانو لاره ني غوره كړي دالله (ج) پيغمبران غالب دي اودآخرت په ورځ هم چي كله اشهاداوګواهان په پښوودريږي ، دشهادت اودګواهي له پاره " يوم لاينفع الظالمين معذرتهم ولهم اللعنة ولهم سؤالدار " هغه ورځ چي ستمګرانوته به ګټه ونه رسوي دهغوي معذرت اوعلر هلته ګټه نه رسوي ، دخپل ظلم له پاره توجيهات اودلائل چاته ګټه نه رسوي " ولهم اللعنة " اوددوي لره لعنت دي، دخداي (ج) له رحمت نه رټل كيدل دي، هغوي به دالله (ج) له درګاه نه رټل كيږي دهغوي پرحال به دالله (ج) لعنت شامل وي ." ولهم سوءالدار " اوددوي لره دي هغه بدداوسيدلوځاي ، بدكور، بس دوي به په دوزخ كي اوسيږي دالله (ج) په لعنت به اخته كيږي ، الله (ج) به يي دخپل رحمت له درګاه نه رټي ، اوددوي ته به معذرت هم ګټه نه رسوي، اوس اوس چي لاموقع موله لاسه نه ده تللي، دظلم لارپريږدي ځكه بيادقيامت په ورځ عذرګټه نه كوي، بيابه هلته دظالمانو ځاي اوروي "ولقد اتيناموسي الهدي واورثنابني اسرائيل الكتاب ، هدي وذكري لاولي الالباب " يقينا مونږ موسي عليه السلام ته هدايت وركړ اوبني اسرائيلوته موكتاب په ميراث وركړ، په دنيا كي موموسي عليه السلام هدايت اورهنمائي كړدهدايت امورموهغه ته په برخه كړل اوبني اسرائيل مودكتاب وارثان وګرځول، هغه كتاب چي هدايت دي اوپند دي دعقل خاوندانولره ، څوك چي عقل لري دهغوي له پاره په دي كي پند اوهدايت دي . الله (ج) لكه څنګه چي دموسي عليه السلام لارښوونه يي وكړه اوبني اسرائيل ني دكتاب وارثان وګرځول ، هغه كتاب چي په هغه كي هدايت ، ذكراوپنددي دعقل خاوندانو لره ، دغسي چي څوك هم دحق لارغوره كړي الله (ج) به ني رهنمائي كوي، اودبني اسرائيلوپه شان چي ګوري ، دښمن ني غرق شو اوالله (ج) دځمكي خلافت هغوي ته وسپاره ، دځمكي وارثان تول، دتولو قومونو امامان شول، په تول عالم باندي هغوي ته فضيلت وركړشو، دغسي چي څوك هم دپيغمبرانولارغوره كړي نوالله (ج) به خپلي وعدي دهغوي په حصه كي ريښتوني كوي " فاصبران وعدالله حق واستغفرلذنبك وسبح بحمد ربك بالعشي والابكار " نوصبروكړه يقينا چي دالله (ج) وعده حق ده ، ګوري چي دالله (ج) وعده حق ده ، ګوري چي دالله (ج) په وعده كي شك ونه كړي مباداچي دستونزو اوكړاوونو په وړاندي بي حوصله اوبي صبره شي لږ چي داوروستي فتحه وځنډيدله ، بي حوصلي شي، اوتشويش درته راپيداشي "فاصبر" صبروكړه ا ان وعدالله حق دالله (ج) وعده حق ده ، داوعده به خامخا ترسره كيږي، په دنيا كي بي هم چي له مومنانوسره كومه وعده كړيده ، هغه به ترسره كيږي داچي پردښمنانوبه هغوي ته فتحه اوغلبه وركوي اودهغوي دښمنان به الله (ج) نيسي ، اودهغوي تخت اوتاج به نسكوروي، دهغوي اقتدار به ختموي دالله (ج) داوعدي حق دي ، په دي كي به شك نه كوي، كه لږ وځنډيده نومباداچي په زړه كي شك راپيداشي او بي حوصلي شي ، صبر، استقامت اوثبات له لاسه وركړي " فاصبر" نوصبروكړه " ان وعدالله حق " يقينا چي دالله (ج) وعده حق ده " واستغفرلذنبك " اودخپلي ګناه له الله (ج) نه معافي وغواړه استغفاروغواړي ، چي الله (ج) خپل مغفرت ستاپه حال شامل كړي، كه له تانه چيرته لږبي حوصله ګي شوي كه خطاب پيغمبرعليه السلام ته متوجه وي اودهغه له لاري نه تمولوته ، الله (ج) خپل پيغمبرته فرماني چي صبروكړه دالله (ج) وعده حق ده كه په دي جريان كي له تانه ستادشان سره نامناسب كوم قصورشوي اوڅه بي حوصله ګي شوي وي نوددي الله (ج) نه بښنه وغواړه ، حتما پيغمبرعليه السلام هم دخپل انساني

> ګوري چي الله (ج) موسي عليه السلام ته دهجرت امر وكړ، اوهغه دشپي، شپي خپل ياران خبركړل (بني اسرائيل) چي دهجرت له پاره آمادګي اوتياري ونيسي هغه هجرت وكړ، فرعون دخپلو لښكروسره دموسي عليه السلام تعقب وكړاوبالاخره هغه هم له خپل تول لښكرسره په بحركي غرق شو،

طبعيت پراساس شايدكله داسي ويلي وي، چي الله (ج) ژرفيصله وكړي ، اوداولي وځنډيدو . ولي داكشمكش طولاني شو، چي ډيرژرفيصله وشي، دخپلوياراانوحالت ته ګوري چي په هره ګوښه كي ترتعذيب اوشكنجي لاندي دي ، شايد څه معمولي بي حوصله ګي له هغه سره پيداشوي وي اوغوښتلي بي وي چي لږ ژرفيصله وشي، الله (ج) ورته فرماني چي داهم دهغه دشان په نسبت له هغه سره نه ښائي دخپل دي قصورمعافي له خداي (ج) نه وغواړه ، اوكه دهغه له لاري تمولومومنانوته متوجه وي نوبيا معني ني داده چي صبروكړه دالله (ج) وعده حق ده ، له الله (ج) نه دخپلي ګناه مغفرت وغواړه ، وسبح بحمد ربك بالعشي والابكار " اوتسبيح كوه دالله (ج) دستاينې سره دخپل رب دستاينې سره "بالعشي والابكار . ماښام اوسبا " چي له دي نه يامراد دادي چي تل دالله (ج) ذكركوه اودهغه په عبادت كي لګيا اوسه ، بس ددي مشكلاتو اودستونزو اودكړاوونو دمقابلي لارداده ، چي تل دي الله (ج) په يادوي اودالله (ج) سره خپله رابطه ټينګه وساتي، تل دهغه ذكركوه ، دهغه په عبادت ، بنده ګي اوتسبيح اوتحميدكي مصروف اوسيږه اويامراددادي چي ابكار دسباني له طلوع نه نيولي دلمرتراختلو پوري دي موقع ته واني اوعشي عربي ژبه كي دلمرله زوال نه دشپي ترابتداپوري دي وخت ته واني اوله دي نه ځيني علماؤاومفسرين دادلمونځونو مختلف اوقات اخلي چي له زوال نه بعددشپي ترابتداء پوري دي كي داځلوروختونه دلمانځه شامل دي ماسپښين ، مازديګر، ماښام اوماسخوتن اوپه ابكار(سباون) كي چي دفجرله راختونه دلمرترطلوع پوري داوخت دي دسهارلمونځ شامل دي داپنځه وخته لمونځونه په دي كي راځي بس ددي مشكلاتو اوكړاوونو په وړاندي ستاسو ترټولو مطمئنه وسيله داده چي الله (ج) تل يادكړي دهغه تسبيح واني، ذكرني كوي دهغه عبادت كوي ، لمونځ كوي، دلمانځه په وسيله دالله (ج) دذكر اودهغه دتسبيح اوتحميد په وسيله له هغه نه استمداد وغواړه ، ان الذين يجادلون في آيات الله بغير سلطان اتهم ان في صدورهم الاكبرماهم ببالغه " يقينا هغه كسان چي دالله (ج) په آياتونو كي دحجت ، برهان اودليل نه پرته چي دوي ته وركړي شوي مجادله كوي پرته له دي نه چي څه دليل ولري ، پرته له دي نه چي هغوي ته څه حجت اودليل وركړي شوي وي ددي نه پرته هغوي دالله (ج) په آياتونوكي مجادله كوي، وجه ني دانه ده چي دليل ولري بوازني وجه ني داده چي ددي دعوت په نتيجه كي دهغوي اقتدارختميږي ، هغوي خپل اقتدار په خطر كي ليدلي ددغه په وجه هغوي ددعوت مقابله كوي اودالله (ج) په آياتونو كي مجادله كوي ، خوهغه خيالي لوئي ته چي هغوي په خپل ذهن كي لري هغه ته رسيدونكي هم نه دي هسي يو خيا ل اوګمان دي هسي بي خايه احساس دلويي اوكبركوي ، هغه ته رسيدونكي هم نه دي اوددي چي دالله (ج) دآياتونو پرخلاف كوم روش اختياركړي دهغه وجه همغه دهغوي دزړونو كبراواحساس دلوئي دي چي هغه ته رسيدونكي هم نه دي، هغه وهمي اوخيالي احساس دلوئي اوبرتري چي ګمان كوي له دي دعوت نه هغه ته صدمه رسري اودهغوي اقتدار ختميږي دخپل اقتدارله ويري نه دالله (ج) په آياتونوكي مجادله كوي . فاستعذبالله نودالله (ج) نه پناه وغواړه بس الله (ج) ته پناه يوسه لكه موسي عليه السلام چي دفرعون دتهديد پرورانډي وويل اني عذت بربي وربكم من كل متكبرلايومن بيوم الحساب " كله چي فرعون وويل ماپريږدي چي موسي عليه السلام په قتل ورسوم اوهغه دي خپل رب مرستي ته راوبلي زه له دي نه ويريږم چي ستاسو دين بدل نكړي يادي دعوت په نتيجه كي په ملك كي فساد خپورنشي ، موسي عليه السلام ته چي داخبره رسيږي واني "اني عذت بربي وربكم من كل متكبرلايومن بيوم الحساب " زه خپل رب او ستاسورب ته (هغه چي دتولورب دي) هغه ته دهرمتكبرنه چي دآخرت اودحساب په ورځ ايمان نه لري پناه ورم فستعذبالله نوته هم الله (ج) ته پناه يوسه " انه هوالسميع البصير " يقينا چي هغه اوريدونكي او بصيرذات دي، هغه ستاسو په حالت پوه دي تاسوګري هغه ستا فريادونه اودعاګاني اوري ، هغه ستادحالت نه غافل نه دي بايد مطمئن اوداوه اوسي ستادفريادونو اودعاګانواوريدونكي دي اوهغه ستاپه حالت بصيردي پوه دي ستامعامله ددغسي بوالله (ج) سره ده چي هغه په هرحالت كي تاګوري اوستافريادااوري، نو خپل رب ته پناه يوسه ، فاستعذبالله ددغومتكبرو، مغروروانسانانونه چي دغروراودكبر په وجه دالله (ج) په آياتونوكي مجادله كوي له دوي نه الله (ج) ته پناه يوسه اوبردي داده اومطمئن اوسيږه چي هغه دفريادونو اودعاګانو اوريدونكي دي اودخپلومومنو بندګانوپه حالت پوه دي " لخلق السموات والارض اكبرمن خلق الناس ولكن اكبرالناس لايعلمون " حتما دآسمانونو اودحمكي پيدايست لوي اوستردي دخلكوله پيدايست نه خواكثرله خلكونه پوهيږي ، ددي نه يامراد دادي چي دغه كافران چي دآخرت نه منكردي اوددغه آخرت نه دانكارپه وجه هغوي دادكفر اودحق ددين او پيغمبرانودمخالفت لاره ني غوره كړي نوالله (ج) هغوي ته فرماني چي هسي تاسوته دخلكو دوباره ژوندون اوپيدايښت ګران معلوميږي هغه الله (ج) چي آسمانونه اوحمكي ني پيداكړي هغه ته دانسانانو بياپيداكول آسان دي، دآسمانونو اودحمكي پيدايست دخلكوله پيدايست نه ډيرستردي اوګران دي، هغه الله (ج) چي داآسمانونه اوحمكي ني پيداكړي دوباره انسانان پيداكوي اوباداچي هغه الله (ج) چي داآسمانونه اوحمكي ني پيدا كړي اوجي دادخلكوترپيدايست نه ډيرګران وو، ګوري تاسودهغه الله (ج) دآياتونو پرخلاف مجادله كوي خواكثرله دي خلكونه پوهيږي ، هغه داسمانونو اودحمكي پيداكونكي خداي (ج) چي آسمانونه اوحمكي ني پيداكړي انسانان ني راپيداكړي ، انسانان به دوباره له حُمكي راژوندي كوي اوداهغه ته ډيرآسان دي نودوي هسي احساس دلوئي كوي اوداچي معمولي اقتداردهغوي په برخه شوي احساس دلوئي او كبركوي حال داچي ددوي معامله ددغسي بوخداي (ج) سره ده دهغه الله (ج) له آياتونو انكاركوي چي داآسمانونه اوحمكي ني تول پيداكړي دي اودهغه په وړاندي دانسانانو خلقت ډيرآسان هي هدايت ني ډير اسان دي داچي آسمانونه ني پيداكړي انسانان ني پيداكړي اوددوي معامله دهغه خداي (ج) سره ده ، دهغه الله (ج) له اياتونونه انكاركوي . ومايستوي الاعمي والبصيروالذين آمنوا وعملواالصلحت ولاالمسي قليلا ماتتذكرون " اوته دي برابر روند اوبينا اوهغه چي ايمان ني راوړي اوصالح عملونه ني كړي اونه هم بدكاردااسره برابرنه دي په دنيا كي تاسوخپله دابرابرنه ګڼي اوتاسوچي بوبدكارانسان ديوصالح اومومن سره نه برابروي روند اوبينانه برابروي په تاسوكي چي دادقضاوت احساس شته مګرهغه ستاسي پيداكونكي خداي (ج) سره به داصفت په اتم اواكمل صورت كي نه وي؟ هغه به دقيامت ورځ نه قائموي ترڅودخلكو ترمينځ قضاوت او فيصله وشي، دابرابرنه دي حتما به دهغوي ترمينځ فيصله، پريكړه اوقضاوت كيږي خوډيركم خلك له دي نه پند اوعبرت اخلي، داچي په انسانانوكي چي مخلوق دي الله (ج) پيداكړي په هغوي كي داقضاوت شته چي صالح اوبدعمله نه برابروي نيك اوبدكارنه برابروي اونيك بنده ګان ورته محترم دي دهغوي قدركوي اوله بدونه كركه اونفرت لري انسان چي الله (ج) پيدا كړي اومخلوق بي دي هغه داقضاوت كوي نه اوبدنه برابروي ، صالح اوبدعمله نه برابروي ، روند اوبينا دهغه له نظره برابرنه دي نوهغه خداي (ج) چي انسانان ني پيداكړي اوخالق دي اودغه صفت ني په انسان كي ايښي هغه به دخلكوترمينځ قضاوت نه كوي هغه به فيصله نه كوي" قليلا ماتتذكرون " ډيركم له تاسي نه پنداخلي . ان الساعة لاتية لاريب فيها . يقينا چي دقيامت هغه ټيته اوساعت به حتماراتلونكي دي . لاريب فيها په هغه كي هيڅ شك نشته ، نه له دي لحاظه په كي شك شته چي داخلك به دوباره څنګه راژوندي كيږي، ځكه هغه الله (ج) چي داآسمانونه اوحمكي ني پيداكړي دي هغه ته ددي دوباره ژوندون آسان دي ، اونه له دي لحاظه دقيامت په قائميدوكي څه شك شته ، چي ګوري الله (ج) به خامخا قضاوت كوي لكه تاسوچي نه اويد برابرنه ګڼي روندااوبينا برابرنه ګڼي، همدارنګه الله (ج) خامخادقيامت ورځ هغه دقيامت ساعت قائموي ترڅوداقضاوت وشي اودخلكوترمينځ فيصله وشي ." ولكن اكثرالناس لايومنون " خواكثرله خلكوايمان نه راوري ، له آخرت نه منكردي ، دادساعت دبرقراريدو اوقائيدونه انكاركوي، " وقال ربكم ادعوني استجب لكم ان الذين يستكبرون عن عبادتي سيدخلون جهنم داخرين " او ستاسورب وويل " ادعوني " ماراوبلي ماته دعاوكړي"استجب لكم" چي ستادعا ومنم استجابت وكړم

(۶۹) ج

دپوراوسوداګري دنړيوال بانک سقوط

انجنير تورګل «خمکني» ترجمه دريمه برخه

مشهورليکوال سايميان دمشهوري ورځپاڼي "دي ټيوز" دجولاي په ۱۹ نېټه په خپله ۲۸۶ ګڼه کي ليکي :

دانګلستان ددولتي بانک له خوا،دپوراوسوداګري د نړيوال بانک(بي سي سي آي) بندول په لنډه موده کي دنوموړي بانک،په فوق العاده موفقيت دلالت کوي اوهمداشان دمشهورپاکستاني اقتصاددان آغاحسن عابدي تررهبري لاندي بي سي سي آي دشلوکلو په موده کي دنړۍ دشپږلويو بانکوله جملي څخه وګرځيد .

دغه بانک ډيرژر ترقي وکړه اودنړۍ په ګوټ ګوټ کي بي ځانګي پرانستلي اوسوداګري بي زياته پراختياوموندله، تولو دي امله دامريکا اواروپا بانکونو له نوموړي بانک سره کينه پيل کړه ، ځکه چي بي سي سي آي دډيرولويو بانکونو په څنګ کي ځاي پيداکړ اوهڅه ئي کوله چي دمحافظه کارو بانکونو دزړو روايانو ،په ماتولو سره هم خپل پرمختګ ته دوام ورکړي دبي سي سي آي ترقي دآغاحسن عابدي دعالي ذهنيت اواستعداد نتيجه ده ، ځکه نوموړي کوښښ وکړ چي عربي متمول شيخان دي ته وهڅوي چي خپلي شتمني دي په يوه نړيوال بانک کي په کارواچوي چي ددريمي نړۍ اوپه خاصه توګه دپاکستان اومصرپه پرمختګ کي مهم رول ولوبوي .

دياداوني وړده چي غربيان دامريکا په مشري کي داتوروونه لګوي چي بي سي سي آي په غيرقانوني کاروبارکي ملوث ؤ اوادعا کوي چي له مخدراتوڅخه په لاس راغلي پيسي ،په نوموړي بانک کي په کاراچول کيدي اوقانوني حيثيت پيداکوي . غربي بانکداران پربي سي سي آي پردي قضه دي چي نوموړي بانک په اقتصادي ډګرکي دغربي بانکونو انحصاري حيثيت چلنج کړاودهغوي بين المللي معاملاتوته بي سخت خطر متوجه کړي ؤ .

بي سي سي آي مروخت هڅه کوله چي اسلامي هيوادونوته دخارجي اسعارو په شکل کي پورونه مهياکړي چي ددريمي نړۍ اقتصاد دامپريالستي هيوادونوله پنجي څخه آزاد شي .

بي سي سي آي ددريمي نړۍ له زياترو هيوادونوسره په ډيرمشکل وخت کي مرسته کړي ده . دمثال په توګه پيرو اودلاتين امريکا نور هيوادونه چي دامريکائي اواروپائي بانکونو له خواله مشکلاتو سره مخ وو،نودپوراوسوداګري نړيوال بانک له هغوسره مرستي وکړي اوهمدارنګه دپاکستان دمالي ستونزو په ليري کولو کي هم دبي سي سي آي رول زيات اهميت لري .

دامريکا له خوا لومړي سخت ګوزار پربي سي سي آي هغه وخت وشو چي دري کاله دمخه دامريکا دجاسوسي دشبکي ايجنټانو دبي سي سي آي شپږماموريونوته بي دوګه ورکړه اودسويس په ځانګه کي ئي داسي معامله وکړه چي په امريکا کي هغه دقانون خلاف وه . دمعاملي ترکولو وروسته نوموړي شپږماموړين تمپاته دعوت شول اودغلته بنديان شول اودامريکائي پوليسو له خوا ورسره زيات بدسلوک وشو .

دري ځله نوموړي تورن ماموړين چي زولانه شوي وو په داسي حال کي په تلويزون کي وښودل شول چي ددوي سره زياته بي عزتي شوي وه .

په لومړيو وختوکي ددوي دضمانت له منلو څخه انکاروشو اودمجرمانوپه حيث په بندي خانه کي ساتل کيدل اوبياکله چي دزياتو کوښښونو په نتيجه کي ئي ضمانت منظورشو،بياپه خپلو کوروونو کي نظر بندپاتي شول چي په پښوپوري ئي داسي الکترونيکي تسمي تړلي شوي وي چي دحرکت په وخت کي دکورنه بيرون پوليسو ته دامعلوميدله چي نوموړي څه کوي . اوهم له پوليسو سره داوريدلو خاصي آلي وي چي دنوموړيو ماموړينو ټولي خبري به ئي اوريدلي .

دڅارنوال په وړاندي دلومړي سماعت پروخت دڅارنوال له خوا سخت قانوني اعتراض وشو چي نوموړي قضيه په قانوني شکل مخ په وړاندي نه ځي اودتعصب په وجه په قضيه کي مداخله کيږي . هيڅاداباورنه درلودچي نوموړي قضيه دقانون په چوکاټ کي چليږي .

بلکي امريکا غوښتل چي بي سي سي آي ته وښيي چي په امريکا اواروپا کي په آزادانه توګه عمل نشي کولاي اوتوصيه ورته کيږي چي خپل فعاليتونه دي په دريمي نړۍ او آسياپوري محدود کړي .

ددي پټوخبروپه نتيجه کي بي سي سي آئي په خپل جرم اعتراف وکړاوهم ئي زياته جرمانه پريکړه اوخپل شپږماموړين ئي دامريکا په رحم وکرم پريښودل اودقضيي څخه ئي ځان خلاص کړ .

ذکرشوي ماموړين په بندي خانه کي دي اوبي سي سي آئي هغوي دخپلو وظيفو څخه برطرف کړل اوپه دي ځاي کي داسوال رامنځ ته کيږي چي پرکوم اساس بي سي سي آئي دي ته مجبورشو چي دخپلو ماموړينو سره داسي سلوک وکړي . امريکا بي سي سي آئي په دي هم تورن کړ چي دجنرال نوريګاله مخدراتوڅخه لاس ته راغلي پيسي چلوي او داهم ښکاره ده اوچي کله نوريګاته دامريکا ضرورت ؤ نوامريکاپه معاملاتوسترګي پټولي ، خوکله چي دامريکا مخالفت له نوريګاسره زيات شو، نودامريکا دښمني دبي سي سي آئي سره هم زياته شوه .

دبي سي سي آئي دشپږوماموړينو دقضيي په دوران کي دلکسامبورګ دبانکدارانو نماينده ګانوهم سخت اعتراض وکړ چي نوموړي قضيه په تعصبي توګه پرمخ بيول کيږي . اودي ته ئي ګوته نيولي وه چي نوموړي عمل يوازي ددي لپاره ترسره کيږي چي بي سي سي آئي يوآسيايي بانک دي . داښکاره ده چي بي سي سي آئي دځينو نويو پلانو په کاراچولو سره ځان ته خطر پيداکړ ، خو آغاحسن عابدي دخپل سياسي تدبيرپواسطه اودمعاصري نړۍ دتقاضا وړ له کبله مهم رول ولوباوه، ددريمي نړۍ ديوه سياسي رهبر په څيرهغه پوهيده چي څنګه په زيرکۍ له مالي طاقت څخه استفاده وکړي . اوپردي اساس ئي دامريکا، اروپا اودهغوله ګماشته ګانوسره تصادم پيداشو .

عابدي په دي هم ښه پوهيده چي زياتي پيسي په کوم ځاي کي دي او څنګه هغه جذبولي شي اوبيابي ددريمي نړۍ اوپه خاصه توګه داسلامي هيوادونو په ترقي کي استعمالولاي شي .

دبي سي سي آي همدغه ګناه ده چي دغرب له خوا ورته سزاورکړي شوه . خودامريکا دلومړي ګوزارپه وجه چي دري کاله دمخه بي ورکړ، پر عابدي هم دزړه حمله راغله او اوس په خپل کټ کي پروت ژوند تيروي .

نودبي سي سي آي مشري دداسي کسانو په لاس ورغله چي نوموړي بانک بي له داسي حالتوسره مخامخ کړ .

دادرسوائي نه ډکه وظيفه بي دبريتانيا دولتي بانک ته سپارلي وه چي دعامو او مروجو تورونو په رڼاکي بي بي سي سي آي بند کړ خودتورونو داثبات لپاره ورسره واقعي دلايل نشته اوهيڅکله ددغسي تورونو له امله بانکونه نه دي بندشوي .

دبريتانيا دولتي بانک غواړي چي نړيوالوته وښيي چي بي سي سي آي په تقلب ، له مخدراتوڅخه لاسته راغلو پيسو ته جايزحيثيت ورکول، پرحکومتونو باندي اثر غورځولو او داسي نورو جرمونو کي ملوث دي .

بي سي سي آي په داسي تورونو تورن کيږي چي دبريتانيا اواروپا نوربانکونه اوږدي زماني څخه په دي کارکي مصروف دي اوله ټولي نړۍ څخه بي شتمني راغونډه کړي ده چي ددريمي نړۍ دهيوادونو دبدبختي اوغريبي عامل ګرځيدلي دي .

بي سي سي آي غوښتل چي دغربي امپرياليزم له خواددريمي نړۍ د لوټلو مخه ونيسي، ښکاره ده چي غربي هيوادونه اوامريکا دمخدراتو په انتقال ، دوسلو په سوداګري ، اوپه بحرونو کي په غارت ګري کي مصروف دي اوپردي اساس دپخوانيو مستعمروڅخه دشتمنيو په لوټلوکي لګيادي .

په اتلسمه اونولسمه پيړۍ کي چي امپرياليستانو کومه شتمني ولوټله نودهغي په بنياد دوي خپل صنعت ته وده ورکړه اوبيا وروسته "متمدن" شول اوبيا بي ځان ته داحق ورکړ چي دنورو په باب قضاوت وکړي .

د افغانستان ربړه به د جهاد په تودو سنګرونو کي حل کيږي

حسن جان حيران

زموږ دغيرتمن اومجاهد ولس بي ساري مقاومت ، ټول کفري ځواکونه دحيرانتيا اوتعجب په حال کي اچولي اواوس اوس خو د اسه ورته ثابته شوي چي دغه قهرمان اومجاهدولس به دخپل وياړلي اوسپيڅلي ارمان دترسره کيدلولپاره خپل شانداره اومقدس روان جهادترهغه وخته پوري جاري ساتي، ترڅوبي چي دخپلي خوښي اورضا سره سم دبيروني لاس وهني پرته ، په ګران هيوادافغانستان کي سوچه اسلامي حکومت نه وي جوړکړي .

پدي باب ټولو نړيوالواوزموږ دروان جهاد دوستانو ته ښه جوته شوي چي کله زموږ دګران هيوادافغانستان نه دسره ښکيلاک وحشي لښکري درسوااو شرميدلي ماتي نه وروسته په تورمخ ځوړند سرونه ووتلي، خوددي ټولو رسوا اوشرميدليو ماتوسره، سره ئي بياهم دکابل مزدوراو ګوډاګي رژيم دبقا اوپه ځاي پاتي کيدلو لپاره دهراړخيزه نظامي اومالي مرستو نه ډډه ونکړه . له بل پلوه ئي خپل وحشي اوحيوان صفته روسي مشاورين دسکدتورغنديو ، لونا اواوراګانو دويشتلو په دستګاووګمارل، زموږ دغيرتمن اومجاهدولس کلي، کوروونه وران دکروندوځمکي شاړي اوسنګرونه ئي دتوغنديو نښه وګرځول .

ترڅوبدي ترتيب دمزدوراوګوډاګي نجيب اودهغوي دمزدوروپلويانو لويدلي مورال اوچت کړي، مطلب داچي دمومنو اواسلام پالوشاه ځلمويه وړاندي تسليم نشي . مګردلوي اوتوانا خداي (ج) په مرسته دوحشي روسي مشاورينو په لاس دسکد، لونا، اواوراګانو ويشتل بي اثره اوبي نتيجي شول . په هرصورت ټولو نړيوالوولیدل چي دمزدوراو غلام نجيب دپلويانو ترمنځ دتشنج ، ګډوډي اوبي اعتمادي لړي پيل شوه ، ان تردي چي دکرملين واکداران ئي په ډير تغير اوتبديل باندي ستومانه شول . چي بالاخره ئي مزدورنجيب ته دګيلم جم ملشياوټولول دکامیابي اوپه ځاي پاتي کيدلو وسيله وبلله .

اوله بل لوري بي مزدورنجيب دي ته وهڅاوه ترڅو دتش په نامه ملي روغي جوړي ډنډوري پيل اوزموږ غيرتمن اوشهيد روزونکي ولس ته دايه ډاګه کړي چي اوس خوروسان له خاوري ووتل اودهغوراتګ افغانستان ته دببرک کارمل پواسطه ؤ، نه زما . نوراځئ چي دملي واکمني دسولي تأمين اودهيواد دبشپړتيا دسرتاسري سولي دترسره کيدلو په لاره کي په چټکي سره ګامونه اوچت کړو، بويل ئي دوروري لاسونه ورکړو اوهغه دچاخبره (تيرپه تير اوهيرپه هير) .

مطلب داچي غلام نجيب ترټن پوري دخپلوبادارانو اودوستانويه اشاره سره په وازکومي پورتني ډنډوري وهي . په تيره بيا له کومي ورځي نه چي دملګروملتونوپنځه فقره ايزي طرحي وړاندیز اوپيشنهاد شوي نوداډنډوره ئي نوره هم پسي ګرمه کړيده ، چي کيداي شي دابه زموږ په ګټه تمامه شي .

اوس نئ چي ولیدل ، چي دملګروملتونومردودي طرحي اووړاندیزونه د افغانستان دقهرمان ولس ربړه نشي حل کولاي اودازموږ بي ځايه هلي ځلي دي، چي هيڅ کومه نتيجه ورباندي نده مرتبه نواوس مي چاره څه ده ؟

دابوځرګند حقيقت دي چي واقعاً چي دجهادپه تودوسنګرونو ، دهجرت په زانګوګانوکي روزل شوي بهادرافغانان به دخپلوميړاو تورويه زوره خپل ګړيدلي، ځوريدلي اومجاهدولس موجوده ستونزه حل کوي . اوهيچانه به ددي اجازه ورنکړي چي دهغوي دخوداراديت په لاره کي خنډ اومانع واقع شي .

الحمدلله ټولو نړيوالوته ښکاره اومعلومه ده چي زموږ دقهرمان او مجاهدولس بهادرشاه ځلمي په تش لاس خودايان په وسله سمبال غازيان ورځ په ورځ دالحاد مورچي رنګوي اوپه پوره ميړانه او اوچتکي سره مخ په وړاندي دروسي . دمزدورنجيب دعسکرو اوکرايي ګيلم جم ملشياؤ نه ئي دتيښتي لارورکه کړي بوبيل پسي خپلي مورچي پريږدي اوزموږ دمومنو غازيانو په وړاندي دتسليمي لاسونه اوچتوي . په داسي حال کي چي زموږ اتل غازيان هم دعمومي عفوي اواسلامي ارشاداتوپه رڼاکي ورسره چال چلند کوي اوهغوي ته پناه ورکوي .

مزدور نجيب په ويرجن اومتزلزل حال کي دخپل ژوندانه شپي ورځي شماري اوس خورابنه ورته ثابته اومعلومه شوي چي زما اودمزدور رژيم دبقا اوپايښت تضمين به نه دتش په نامه دسولي ډنډوري وکړاي شي، اونه هم دکرايي ګيلم جم ملشياوي .

ځکه زموږ دوياړمنو اوقهرمانو مجاهدينو دفتوحاتو اوسوبو لړي بوبيل پسي په چټکي سره روانه ده . چي دااوس هم په ننګرهار ، لغمان، سروبي ، کابل، لوګر، ميدان ، غزني ، قندهار ، هرات او همداشان په پروان ، بدخشان اوکندزکي دملحد رژيم دپلويانو اوزموږ دقهرمانو غازيانو ترمنځ جګړه روانه ده . ان شاء الله ژر ده چي دمزدوررژيم تخرورتول اوټولي ناولي هيلي ئي له خاوروسره خاوري شي . ان شاء الله داسلامي انقلاب ډيري په هيله

اسلامي نړۍ څنګه دسوسياليزم اغيزومانه

محمد رحيم «خنجري»

په تيريسي

په دي وسيله ستالين غوښتل دايران نوم په تاريخ کي ختم کړي داکوښښونه هم دايران په دننه او هم له ايران څخه بيرون جاري وو . بياهم ستالين بريالي نشو اودهغوي دغه حرب چي غوښتل بي دعربي نړۍ تيل اودزوم بحيره پخپله ولکه کي راولي،ترخرمنه شو .

ليکن دغه خلك ماتي خوړونکي نه وو . کله چي په ۱۹۵۳کال دستالين جانشينانو خپل فعاليتونه پيل کړل . دبغداددترون دترکيي، ايران او عراق ترمنځ دروسي جارحيت نه دځان محفوظ ساتلوپه غرض لاسليك شوخوروسانو دهغه مخالفت وکړ اوعبدالکريم قاسم د ۱۳۵۶ کال دکودتا په وسيله روسان په دي وتوانيدل چي عراق له دي ترون څخه ګوښه کړي . دقاسم دکودتا نه وروسته دالومړني ځل وچي ، په عربي نړۍ کي دسوسياليزم آواز پورته شو . مګر دعراق کمونست ګوند دکودتا کاميابي وروسته په سرې وژنه ، وحشت ، چوراوچپاول په ښکاره شروع وکړه ددي چور اولوټماري په نتيجه کي عربي نړۍ دکمونيزم څخه وويريده ، خودلته بياهم دامريکا او يانورو غربي هيوادونو جاج اخستل پکاردي له دي امله په عربي نړۍ کي داشتراکيت اوکمونيزم داثر نفوذ اوقوت مسئوليت ترزياتي اندازي پوري دروسانو په غاړه ؤ ، داځکه چي هغوي غوښتل دفلسطين مسئله دتل له پاره ګرمه وساتي، چي په دي وسيله هغوي خپل ځان عربوته دوست وښيي نودخپلي پخوائي اوله موده لويدلي مکاري څخه بي کارواخيست هغه داچي داقتصادي ، پوځي اونظامي اوفني مرستوپه نامه بي په عربي نړۍ کي خپلي ريښي ښخي کړي . اوکله چي مصرله روسانوڅخه د ۱۹۵۵ کال دپوځي ترون ترلاسليك وروسته په سلاح اخستلو اوراوړلوشروع وکړه ، نوده روسانودسياست اثر په ډاګه په عربانو ولويد مګرغربي هيوادونو له وسلي وورکولونه ډډه وکړه .

جمال ناصر پوځي مرستو، پيراخستني اومادي کومك دکمونستانو په لمن کي وغورځاوه . له بلي خواروسانو داسي تبليغوله چي يوازني سرې چي عربي نړۍ ته نجات ورکولاي شي هغه جمال ناصردي دسوسياليزم ، کمونيزم اصلي اهميت اوواقعي بڼه هغه وخت رامنځته شوه چي جمال ناصر د۱۹۶۱ کال په جولاي کي دمصردننه دلومړي ځل له پاره دسوسياليزم دنفاذ حکم صادرکړ . اود سوسياليزم قانون بي په عمل کي پياده کړ . په دي وسيله بي غوښتل چي په نوروعربي هيوادوکي هم دسوسياليزم دانقلاب دمنځته راتللوله پاره لاره هواره کړي .

هغه علمي سوسياليزم غوره اوبهترګڼه ، علمي سوسياليزم يعني موښ پوهيږوچي علمي سوسياليزم دمارکسيزم دويم نوم دي چي دغه نوم ورته لينن اونوروکمونستي مشرانو استعمال کړي او کله بي نور خلك استعمالوي تولو دي څخه بي هدف دمارکس سوسياليزم دي اوداله ټولو اشتراکي تصوراتو اوفکرونو بيل دي .

لينن چي کله مارکسيزم رامنځته کړنو دهغه لپاره بي دعلمي سوسياليزم نوم استعمالوه يعني دمارکس دنظام غوښتنه بي کوله . هغه څه چي دسوسيالستي انقلاب ځانګړنه وه ، په عربي هيوادوکي دټولونه دمخه د پادولو ورداعي بي رشيدعفلق دبعث ګوند موسس دي .

" هغه به ويل ، زه مارکسيزم ته په درنه سترګه ګورم اودسوسياليزم په وجه مي دمارکسيزم نه زياتي ګټي ترلاسه کړي " صلاح الدين بيطارچي کله په سوريه کي دصدراعظمي چوکي ترلاسه کړه نو په بين المللي سطحه دبعث دګوند قوماندان اوګرځي هم ؤ، ويل بي " زه دټولونه دمخه غواړم ددي مجهول څيزپرده چي هغه په سوسياليزم کي موندل کيږي پورته کړم هغه داچي زه کله دسوسياليزم نوم واخلم نوناسوته اشتباه پيداکيږي چي شايد سوسياليزم يونوي څيزمنځته راوړي . زه په پوره داډ اواطمينان سره وايم چي زموږ نظر اوسوسياليزم يودي اوهغه علمي سوسياليزم دي ، موږته دټولونه نژدي ماخذاومنبع مارکسيزم سوسياليزم دي"

په همدي وسيله دبعث دګوند ليدر نورالدين اتاسي چي هغه دسوريي رئيس هم ؤ د ۱۹۶۶ کال دانقلاب پروخت وويل : " موږپه هيوادکي علمي سوسياليزم منځته راولو اوله دي سره سره دمصر ترون، چي دهغوي له پاره يوقانوني اهميت اوارزښت لري .

دهغه په ترتيب به جمال ناصر ټول عمرفخرکاوه . موږليکو دترقي اودکاردپرمختګ له پاره موزونه لاربه علمي سوسياليزم عمل کول دي اوبس . بيله علمي سوسياليزم نه دبلي لاري اختيارول کومه ګټه نلري . همدارنګه دعربي نړۍ يومشهورکمونست ليډرخالدعربي سوسياليزم تائيد کړل اواعلان بي وکړچي دعربي سوسياليزم نه هدف علمي سوسياليزم دي . اودا دکمونيزم يوسيي هدف دي . داردن يويل کمونست وويل : دسوسياليزم داتصورکول چي هغه محض يواقتصادي نظام دي غلط تصور دي . سوسياليزم يوحياتي فلسفه اودژوند کولو نظام دي اوهم موږته دژوندکولو طريقه اوطرز راښيي، دسوسياليزم دموجوديت نه زموږهدف اومقصدداده دي چي موږدهغه په دننه کي دژوند شپي او ورځي تيري کړو بلکه زموږ هدف داده چي دهغه له پاره کاروکړو. چي دژوندانه په طرز باندي پوه شو . خپلي هلي ځلي اوکوښښونه جاري وساتو، زموږدي عمل نه سوسياليزم ويل کيږي ، چي هغه تضاد په سياست ، تعليم اوتربيي اجتماعي معاملاتو ، صحت، اخلاق، ادب اوتاريخ باندي محيط وي اودزندګي په هرلوري اوکوچني برخه بحث کوي . دسوسياليزم دموجوديت نه ستاسي مقصد اوهدف داده چي دخپل ژوند په هره معامله کي دسوسياليزم له لاربښوونوڅخه کارواخلي .

دمصر مشهورسوسيالستي مشر رفعت کمال سوسياليزم توضيح کاوه اوويلي بي : سوسياليزم دژوند کولو نظام اولارده دايومعين څيزپوري تړلي نه دي . بلکه داهغه حالاتو پوري تړلي اومقعيد دي چي هلته نافذيدلي شي . زموږسوسياليزم يوځانګړي فکري ژونددي . چي مخصوص مزاج اومخصوص نظرلري دا يوازي کومه اقتصادي اصطلاح نه ده بلکه داديوي ټولني دفردفرد فکري اوعملي مشکلاتودحل لاره ده . داخبره يومصري سوسيالست داکترجمال سيدداسي وکړه . دعربي سوسياليزم داامتيازنه دي ، چي هغه يواقتصادي تحريك دي بلکه دهغه داامتيازدي،چي هغه يونظام ، يوانساني مذهب اودژوند يوه لارده دهغه مقصد ديوي نوي ټولني تشکيل دي ددي سوسياليزم محض هدف دانه دي چي فردي وسايل او پيداوارديوفردله ولکي څخه ايستل اوټولنيز ملکيت ته سپارل دي . ياپه قومي اقتصادولګه کول اوهغه دټولني دبهبودپوري مخصوصولوته نه وايي بلکي سوسياليزم ديوي نوي ټولني دتعميراوجوړيدونوم دي . دهغه له افکارونه هم په آساني سره نتيجه ترلاسه کيږي . چي دهغوخلکوسره نژدي دسوسياليزم مطلب څه دي ؟ دهغه نه هدف څه دي ؟ اوهغه کومي خواته بيايي دهغوي په وړاندي سوسياليزم يوازي دمارکسيزم دوهم نوم دي .اودلته دټولويديو مخنيوي چي په حقيقت کي داټولي يدي له همدي کمونيزم نه ژيږيدلي يوازي کمونيزم ياعلمي سوسياليزم يامارکسيزم په وسيله کيداي شي . دعلمي سوسياليزم الفاظ په واضحه توګه داښيي چي مارکسيستي سوسيالست دااصطلاح دمارکسيزم دنوروسوسيالستي نظرياتونه دبيلولو په خاطر استعمالوي . علمي سوسياليزم په حقيقت کي دمارکسيزم دخالصي بڼي نوم دي لکه چي لينن ويلي وو:" دمارکسيزم عقيده جامع اوپه خپل دننه کي ځانګړي معني لري دانهايت کامله او هماهنګه عقيده ده " دمصرترون دي فکرته ددي الفاظو جامه وروا غوسته . " سوسياليزم هغه يوازيني دعمل لاربه ده چي دهغي په وسيله مطلوبه ترقي ترلاسه کيداي شي .

په دي ترتيب سره ګوروچي په اسلامي نړۍ په څه ډول دسوسياليزم دتبليغاتو تراغيزلاندي راغلي او هغه دژوند يوه داسي لارګڼي چي دټولني ټول مسايل حل کولاي شي حال داچي موږ وليدل چي کمونيزم دنړۍ ترټولوناکام اجتماعي نظام د ی.

دجهادپه ادامي سره به الحادي حکومتونه راپرځي

شمس الحق "شمس"

دهرجابر ، ظالم ، کفري اوالحادي حکومت دراپرزلوپه لارکي دسراومال قربانول دهربالغ ، عاقل مسلمان ايماني اواسلامي وجيبه ده ، ددغه سپيڅلي وجيبي په سرته رسولوکي به هرمومن خامخا خپل اصلي هدف ته رسيږي اوسرلوړي به بي نصيب کيږي .

لله الحمد دافغانستان مومنتواوپه خداي (ج)مينوخلکودغه ايماني وجيبه چي جهادورته ويلاي شو په ډيراخلاص ، صداقت اوپوره ايمانداري اوزړورتياسره سرته رسولي اولالګيادي دالحادي حکومتونو درانسکورولو اوله منځه وړلو لپاره بي نه ستړي کيدونکي هلي ځلي په کاراچولي دي . که دافغانستان دمومن ولس تيري لسيزي ته نظروکړو، داحقيقت په ډاګه کوي چي دي دي مظلوم اوبيچاره ملت دالله (ج) په لاره کي ديونيم مليون شهيدانو په ورکولو، دپنځه مليونو څخه دزياتو خلکو ګاونډيوهيوادونو ته په مهاجرکيدو، دکليو، کوروونو، باغونو اوکروند ويجاړيدو سره منځه تلو سره غوره افتخارونه ګټلي دي اوپه نړۍ کي بي رشجاعت اوبي ساريوقربانيوشمله جګه کړي ده .

هو!دادي مسلمان ملت دويښ ضميراوزړورتيانمايندګي کوي چي دنړۍ دستروشيطاني ځواکونو اودهغه له نوکرانو سره تيغ په تيغه دجهاد سنګرونه تل په خپلو وينورنګين ساتي اوافتخارونه ګټي، په هيڅ حالت کي نه مايوسه کيږي بلکه ددښمن دبقايا ودبيخي له منځه وړلو لپاره لانورهم پياوړي کيږي اودجهادپه ادامي پيداکولوکي نه ستړي کيدونکي هلي ځلي په کاراچوي ، ترڅوبدي ملك کي ديوسوچه اسلامي حکومت په رامنځته کيدلو،يالي شي اودجوړيدومشکلين بي وګرځي .

په افغانستان کي داسلامي حکومت جوړيدل اونافذيدل ددي ځوريدلي اوکړيدلي ملت دهرمومن اوسيدونکي سترارمان دي، داارمان به خداي (ج) دکفراوالحاد په مقابله کي د جهادپه ادامي سره پوره کوي داارمان به دخداي (ج) په لارکي دسراومال په قربانولوسره پوره کيږي ، ددي ارمان دپوره کيدوشيبي ډيري رانژدي شوي دي ځکه مجاهدينو دښمن په ګوندوکړي ، دښمن قوت بي له رسواماتي سره مخامخ کړي دي.

تاسي ګوري چي ددي ملت ايمانداره اوسيدونکو دنړۍ سترشيطاني ځواك چي لمړي په امپراتوري کي نه ډوبيږي، څنګه له رسواماتي اوناکامي سره مخامخ کړاوله خپل ملك څخه بي په بيرته وتومجبورکړ . له افغانستان څخه دروس برغلګرپوځونو بيرته وتل، څه آسانه اوساده خبره نه وه او نه جابرواوظالموروسانو دافغانانو په پاکوخاوره باندي دتجاوزاوتيري پروخت ددي فکرکاوه چي زموږپوځونه به پداسي رسوا اوشرميدلي ماتي سره دافغانستان څخه بيرته راوځي . ددوي دخيال اوفکرساحه ډيره پراخه وه ،داملت بي هم دبخارا، تاجکستان اوازبکستان په شان دخپلي ظالمي امپراتوري يوه مستعمره ګرځوله اوبياممکن دخپلو ايجنټانو اوغلامانو دبقاډپايښت په پوره يقين اوباور پيداکولوسره دخپلو پوځونو په بيرته وتو سلاشوي واي، ولي داهرڅه بي دمايوسي اوناامیدي په سيندکي ډوب شول .

په ا فغانستان کي دستروحشي روسانو داشرميدلي ماتي اوناکامي دنړۍ دهيوادنو دحيرت اوښښتني وروګرځيده ، چي ددوي په اصطلاح دنړۍ سترطاقت، روسي پوځونه چي په ډيروعصري اومهرنو جنګي وسلو سمبال دي خوپه افغانستان کي ## له رسوا ماتي سره مخامخ شوي .

دخبري آژانسو نو اوراډيوګانوله خولي په مواوريدلي وي چي په روسيه کي دنويو قوانينو او طرزالعملونو په پلي کولوسره په روسيه کي زياته خپلمنځي ګډوډي رامنځته شويده ، داګډوډي دسرسختوکمونيستولينن پرستوګروه اوداوستي ،واکدارا وتوترمنځ دنويو اصلاحاتوپه رامنځته کولو اودکمونست لينن دوخت دپاتي شويو قوانينو دلغوه کولو اوله منځه وړلوپه سرلوح نه رسيدلي ده . داخبره خوپه ځاي پريږده چي په روسيه کي لينني قوانين اوطرزالعملونه غيرقانوني اعلانيږي . دکابل دګوډاګي حکومت دخپل وخت سرسخته کمونيست واکداران ببرك اوکښتمندهم دافغان مجاهدولس دتيرابستلو په خاطرخپل پخواني ملګري ملحداوکمونيست نجيب ته دانتقاد ګوته نيسي دنجيب په ضدمطبوعاتي کنفرانسونه جوړوي اوځانونه ددي ملت، دکمونيستي اور په لمبوکي کباب شوي وګړوملګري ته په نوي غولوونکي کمونيستي بڼه کي دخواخوږي اوددبارلس کلني لانجي دختميدو عاملين معرفي کوي له کمونيست ګوندنه دوتو اعلانونه کوي . ولي دااولس اوس دپوره تجربي خاوند ګرځيدلي ، ډيرهوښياراوځيرك شويدي . ددښمنانو په ترطيو اودسيسو نه غوليږي ، داخبره ورته ثابته ده چي وايي "هرسپی دليوه وروردي" .

ددي ټولوپيښو اوبحرانونو درامنځته کيدو سبب يوالحي اويوالځي دافغان مجاهدو دخداي (ج) په لارکي دسراومال بي ساري قرباني اوظالموتجاوزګرويه مقابل کي دجهاد اعلان اودجهاد ادامه ده . ځکه خداي (ج) فرمايي چي " تاسوترهغه وخته پوري جهاد ته ادامه ورکوي ترڅو په هغه ځاي کي فتنه ختمه شوي نه وي " نن په روسيه کي دکمونيست لينن فتنه ګر او دښمنه قوانين لغوه اومردوداعلانيږي . نوخداي (ج) مهربانه اوحق پالونکي ذات دي چي دجهاد په ادامي سره ديونيم مليون شهيدانو ارمان چي هغه په افغانستان کي دمجاهدينو په لاس ديوسوچه اسلامي حکومت جوړول اوپه نړۍ کي دکمونيستي اونورو غيراسلامي ناوړه افکارولة منځه وړل ؤ سرته ورسيږي ، موږمسلمانان پدي پوره يقين اوباورلرو چي دا ارمان به مرالله (ج) دجهادپه ادامي سره سرته رسوي، ځکه قرآن عظيم الشان دخداي (ج) دوعدي شاهددي چي فرمايي :" راغي حق اوناپود شوباطل ؤ په تحقيق سره باطل چي دي نابود کيدونکي دي ؤ .

دافغان مجاهدولس مومنوخلکودحق په راوستلو اودباطل په له منځه وړلوکي بي ساري قرباني ګاللي دي . پدي لاره کي بي ډير کړاوونه ليدلي دي ، ولي دمايوسي اوستړيا هيڅ آثار بي په څيروکي نه ليدل کيږي . ډير ژرده چي ان شاء الله دخپل هيواد دآزادي جشنونه جوړکړي اوالحادي حکومت به ختم کړي . په افغانستان کي ديوسوچه اسلامي حکومت جوړيدل به ان شاء الله په روسي الحادي حکومت اودنړۍ په نوروغيراسلامي هيوادونو باندي مثبت تاثيرات اچوي، اوغيراسلامي حکومتونه به ختميږي . همداوجه ده چي نن سبا شرق اوغرب دافغانستان دجهاداوبريالتيوب په مقابله کي خپل ټول مادي اونظامي قوتونه سره يوکړي

دبسم الله وفا لیکنه

آه ، قاضي صاحب چیرې موهیربزي

دقاضي صاحب عبدالمجید " قانت " دشهادت په ویاړ حیران پاتې یم چې زه دې په کوم توم څنګه اوځه یادکړم ، ځکه دانیمکله ژبه اوګړاومات قلم ددې توان نلري چې ستاددرانده شخصیت پوره مدحه وکړي اوستاد ژوند دداستان خوږو ترخو په مزه ځان پوه کړي . که هرڅومره ستاپه یادڅسپین کاغذ پرمخ توري کربنې وکاږو که تړوله ورځ ستاپه یادوغږیږو اوکه هرڅومره ستادشهادت اوفاتحو دمراسمو تجلیلونه اولمانځنه وکړوولي بیا به موهم کم کښلي وي، کم ویلي ویلي اوکم به موکړي وي اوپوروړي به دې یو اه قاضي صاحب !!

اي داسلام سترسپه سالاره هغه ته وي چې داسلام دسپېڅلي دین دساتنې په خاطردي شپه اوورځ پرځان یوه کړې وه اوډژوند تراخري شیبې پورې دې ځان بې پروانه ګاڼه اي داسلامي دعوت صابر دعوت ګره ! هغه ته وي چې دې دنیاګې خوږې اواترخي دې ترشاه کړې وې اوپه کلي کورهجرت اوسنګرکښې دې په خورامیرانه اواستقامت خلك داسلام حق دین ته رابلل .

اي دتقوا پیکره ! هغه ته وې چې څلرویشت ساعته به دخداي په ذکر اوعبادت کښې ډوب وې اوبې دالله له توم نه به دې دړبي پرسربل څه نوه .

اي دقلم اوتوري توریالیه ! هغه ته وي چې دعملي جهاد سره سره دې دړبي اوقلم نیلي هم ځغلاوه اودپټواوښکاره دښمنانو رنګارنګ دسیسي دې رسواکولې اي دتنګیال اولس سایښته سرداره ! هغه ته وي چې دخپل اولس په غم اوښادي کې دې ځان شریك ګاڼه اودهغوي ښې اوبدې به دې په پوره اخلاص اوخواخوږي حلولي .

اي دهیواد اتل اوقهرمان بچیه ! هغه ته وي چې دګران وطن دآزادۍ په خاطردي دسرې خورو دښمنانو سره په پوره میړانه اوشجاعت مبارزه کوله اوهمداسپېڅلي لاردي دخپل ژوندعزت باله .

اي دمسلماني موورښتینه زویه ! هغه ته وي چې دخپل ولس دساتنې په لار کښې دې دغره دلمنې دپسرلي صحرائي ژېرګلان په خپلو وینو رنګین کړل اوپه رښتیا چې دېوي مسلماني مور شیدې ژوړولي وې .

اي ددنګوغروشین زمریه ! هغه ته وي چې له خپل سنګره به دې دزبون وهلي دښمن سینې همیش ورردیدلي اودهغوي شومي هیلي اوارزوګانې به دې په کوګل کښې ورختلي کولي .

اي دسیاست دډګرپهلوانه ! هغه ته وي چې دمکاردښمن فریبونه اوتیرنګونه به دې تریښولاندې کړل اودهغوي ټول پیغامونه اودعوتونه به دې په کلکه ردول .

